# غمي غمي

# سيندونه

سيد جيلاني جلان

غمي غمي سيندونه

سيد جيلاني جلان

## هنري غمی !



د غمي غمي سيندونو پنځوونکي د سند ريزاريوب له شنو درو سرچينه واخيسته او د نغمو د ځپو خوږ شور يې په لرو برو پښتنو کې خپور شو. د ډېرو ژبيو او پيغلو ادبي تنده يې د خپل جوهري هنر په مينه ناکو او بو خړوبه کړه. ډېرو مينانو ترې د خپلې مينې لپاره د غميو او جواهرو هارونه جوړ کړل. د شعر ډېرو دورخانيو او شيرنيو ترې د الهامونو منګې ډک کړل. د نوو ترکيبونو او تشبيهاتو ځوان پاچا جلان دې همداسې شرنګيدلی او ځليدلی غمی اوسي.

نوموړي په (۱۳۲۲) کال کې د پکتيا د آريوب ځاځيو د خيرمينې په کلي کې د ګلاخيلو په ټبر کې سترګې پرانيستې. ماشوم وچې پر ګران هيواد د بدبختۍ طوفان د خپلې کورنۍ سره د هجرت په لور روان کړ. تر دولسمه يې په خيبر پښتونخوا کې لوست وکړ له هغې وروسته يې د هيواد په پلازمينه کابل کې د ښوونې او روزنې پوهنتون کې د ليسانس ترکچې د پښتو ادبياتو په برخه کې زده کړې وکړې. او بيا يې په کابل کې د دنيا پوهنتون څخه د ادارې او تجارت په رشته کې ماستري وکړه.

جلان د (غمي غمي سيندونه، نه وړاندې (د ګلپاڼو اتڼ) او (د هېندارو دره) په نوم دوه شعري ټولګې چاپ کړې چې د پښتو د شعر په ګلبڼ کې يې ښه نيازبينه اضافه وکړه او د افغانستان د مخابراتو په اړه څړنيز ناچاپ اثار هم لري. د شاعرۍ او ليکوالۍ ترڅنګ يې د هيواد په ګڼو رسنيو کې د وياند ، پروډيوسر، ايډيټر او د ځينو رسنيو د مشر په توګه دندې ترسره کړې دي. په هيواد او ټولنه کې د يو خوږژبي ژورناليست او وياند په حيث محبوبيت لري. د رسمي دندې ترڅنګ په ځينو خصوصي پوهنتونو کې د استادۍ مقدسه دنده هم پرمخ وړي. نوموړي د ښه هنر او د نوښتګرو پنځونو له کبله په (۲۰۱۵) کال کې د افغانستان د غوره شاعر په حيث د ژوند ګروپ څخه د سروزرو مډال ترلاسه کړ.

همدارنګه په هيواد او له هيواده بهر له مختلفو مدني ، ښوونيزو ، فرهنګي ، رسنيزو او ټولنيزو نهادونو لخوا تر اوسه په ګڼ شمير ستاينليکونو نازول شوی دی. ځو خله يې د ښو فرهنګي او ټولنيزو خدمتونو په اړه نمانځغونډې ننداره شوې. په (۱۳۹۲) کال د افغانستان په ارګ کې د ښاريانو ديوال (ديوال شهروندی) باندې د هيواد د اغيزمنو او مشهورو شخصيتونو په کتار کې هم د ده انځور وځړيده. دا هر څه د ده د ښه هنر د وطن او ولس سره د ژمنتيا ثبوت ورکوي. ترکومه چې زه جلان پيژنم د خپل هنر غونډې خوږ ، مينه ناک ، ژمن ، پاک نفسی ، زخمت کش ، هڅاند ، باوقاره ، خوراد روند په وطن او ولس مين انسان دی. د ده مينه او پنځونې دې د خوږې پښتو ، ولس او وطن لپاره تاندې او روانې وي.

په درښت

بلښنده بدری

پېښور

۲۵ ليندی ۱۳۹۷

بسم الله الرحمن الرحیم

# غمي غمي سیندونه

سید جیلاني جلان

# ډالۍ!

د پښتني نثر پاچا ګران او ارواښاد استاد سعدالدين شپون ته!

د انسانيت زړور غږ او نه ماتېدونکي مشر منظور پښتون ته!

# ځانګړنې:

نوم: **غمي غمي سیندونه**

شاعر: **سیدجیلاني جلان**

خپرندوی: **کتاب کورخپرندویه ټولنه**

د چاپ شمېر: **۲۰۰۰ ټوکه**

لومړی چاپ : **۱۳۹۸**

اوډون: **صابر زیار او حبیب کامران**

پښتی: **مشتاق درانی**

د شاعر د اړیکو شمېرې: +93(0)777576762 /+93(0)799576762
برېښنالیک: jillani_jallan@yahoo.com

Jillani.jallan560@gmail.com

د کتاب بیه: **۱۰۰/ افغانۍ**

# لوست مزل

شعرونه هنري اولادونه دي. شاعر انسان باید دغه هنري اولادونه په ډېره مینه د ادب، فرهنګ، ژبې، ولس، وطن، ټولنې او د انسانیت د خدمت لپاره ښه وروزي او وړاندې کړي.

د دغو هنري اولادونو ټولنې ته د وړاندې کولو بېلابېلې لارې وي خو تر ټوله ښه، خوږه، تلپاتې او ګټوره لاره یې د کتاب لاره ده، چې شاعر خپل شعرونه په کتاب کې ځایوي، چاپوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي. ما هم د ادب د لارویو په کاروان کې د یو عادي لاروي په حیث له دې وړاندې دوه کتابونه چې یو یې (د ګلپاڼو اتڼ) او بل یې د (هېندارو دره) وو چاپ کړل او اوس له نیکه مرغه دا دی (غمي غمي سیندونه) ستاسو په لاسونو کې دی.

شاید په دې کتاب کې ځینې نیمګړتیاوې وي، خو ما خپله انساني هڅه کړې چې د ادب، فرهنګ او ټولنیز خدمت په موخه ټولنې ته یو کتاب ګوټی وړاندې کړم.

دا چې دغه شعري کتاب څومره د ادب او د ټولنې په ګټه تمامېږي ؟ په دې اړه به ټولنه او زمانې قضاوت کوي.

نو ګلاب ګلاب لوســـتونکو! خبره نه غځوم په ډېره مینه بلنه درکوم، راځئ د غمي غمي سیندونو په شاعرانه څپو کې د خیال په خواږه کښتۍ کې کینو او د لوست رنګین مزل پیل کړو.

که مو خوښـه وه د دې شـاعرانه سـفر څخه وروسـته خپلې خـاطرې او نـیوکې زمـا د راتلونکو ټولنیزو او هنري کارونو د ښـه کولو په موخه راسره شریکې کړئ، پر ما به مو غرونه غرونه پیرزوینه وي.

په ټوله انساني مینه
ستاسو جلان
۲۵ غبرګولی ۱۳۹۸
هېوادوال ښارګوټی
کابل

نفرت دې ورك شي مينه ناکه زندګي جوړوم
نن يې لاسو ته له ګلونو نه بنګړي جوړوم

فرق مو همدا دی دوی تندیو ته پټکي جوړوي
خو زه لګیا یمه پټکیو ته تندي جوړوم

جانانه تم شه چې د زړه په رنګ دې وولمه
په شنه لمنه دې تصویر د پسرلي جوړوم

خدایه! در واخله له ما دغه د ماښیو دنیا
بیا مې ماشوم کړه چې له ختو نه سړي جوړوم

د خیال ماهیانو ته جلانه د غزل اوبو کې
د کلیمو د سپینو شګو نه کورګي جوړوم

۱۱ غبرګولی ۱۳۹۵
کابل

پہ بلو شمعو کې ولاړه اینې ته ګوري
واه واه یوه منظره بلې منظرې ته ګوري

د ستا قهر لاندې ځان دومره بې وسه ګڼم
لکه څاروی د قربانۍ وخت کې چاړې ته ګوري

زه چې ستا مینه زړه کې ساتم خود به تاته ګورم
څوك چې لمانځه ته نیت تړي ضرور قبلې ته ګوري

راښکون نوښت وکړئ که شعر چیرې په خلکو منئ
خلك په شپه کې لوګی نه ګوري لمبې ته ګوري

مه یې وهئ کمزوری نه دی پښیمانه به شئ
دا ځواني مرګ جلان خپل وار خپلې موقعې ته ګوري

کولای نشي څوك د چا پوښتنه په دې ښار کې
ارزانه ده بیخي انسان وژنه په دې ښار کې

ملګرو! د حالاتو لیونتوب نه داسې ښکاري
چې ګام په ګام پیښیږي زړه چودنه په دې ښار کې

ای کاش چې مروجه شي په ځای د تورو کاڼو
په سپینه رڼا ورځ په ګل ویشتنه په دې ښار کې

تراوسه خو فضا میني ته جوړه نه ده جانه!
ښه نه ده په یو بل لاس اچونه په دې ښار کې

جلان لکه زلمی د واده پټ په زړه کې خوښ یم
یو څوك مې په غزلو ده مئینه په دې ښار کې

۷ غبرګولی ۱۳۸۹
کابل

کله چې مشغول د خپل ښایست په ننداره کې وي
ته وا سیند راتم د ګلابونو په دره کې وي

خود مو د زړو ستنې ستا خندا ته تم کیدی نشي
ګوره د لښکر زور د لښکر د سر ناره کې وي

تاو راتاو یې داسې لوپټه له لوړه قده ده
ته وا چې کړه زینه ختلي میناره کې وي

غیږ کې یې د څڼو شنه خالونه داسې ځل کوي
لکه څراغونه د شپې بل په جزیره کې وي

و ساده جلانه! یار ته ډېر ورنیږدې کیږه مه
اصل خوند د مینې د لیدلو په اسره کې وي

۱۴ سلواغه ۱۳۸۸
نوا راډیو - کابل

خير دی که نظر مې ستا ډيوه ډيوه بشر ته ځي
ژمي کې له سيوري طبعي دی سړی لمر ته ځي

څه رانه پوښتې چې څومره مينه لرم تا سره؟
ګوره سمندر ته چې له کومه راځي چرته ځي؟

ستا نه نه انکار مې اخېر هم چيغو ته اړ باسي
تنګ چې بدي دار سړی په کلي کې شي غر ته ځي

مخ د انقلاب نوره له جنګه په نغمو اوړي
دادی ملا جان مې له رباب سره ممبر ته ځي

ستا مينه چې ملا ستا د جلان د غزل وتړي
ته وا پښتنه پېغله له ورور سره سنګر ته ځي

۲۴ مرغومی ۱۳۹۳
کابل

شونډې يې د تاند پيغلتوب اور اور رنګ ته واوښتې
وا د ښکلا لوښه څومره ښکلي جنګ ته واوښتې

زما په راتلو ټنډې د حسينو ګونځې ګونځې شوې
دا هيندارې ولې په يو رپ کې زنګ ته واوښتې؟

ته چې لاړې زه د خپل وجود کاله ته ننوتم
سترګې مې د زړه کوټه کې تش پالنګ ته واوښتې

راشه زه او ته هم نن د شرم پوله ماته کړو
وګوره! طالبي څنې ډول او ډنګ ته واوښتې

نور به دې جلانه! د ښکلا د پاچا زوم ګڼو
پيغلې زمانې دې د غزلو شرنګ ته واوښتې

۲۳ کب ۱۳۸۹
کابل

یاغي خندا يې زړه ته داسې د کيف مۍ ورکوي
ته وا هوسۍ د تګ په وخت بچي ته پۍ ورکوي

د ښکلا وږي د ځوانۍ باغچو ته پريږده کنه
خلك بې کوره مسافرو ته ډوډۍ ورکوي

باور کوې چې سل کلنه زاهدي ماتوي
چې د ناز اور خوږو ليمو ته ليونۍ ورکوي

راغاړې وځه د منظر د جوړيدو شيبې دي
د ګودر ونه يو خواږه باد ته خولګۍ ورکوي

ستا هغه دنګ ستا هغه ښکلي جلان داسې دی اوس
چې اينه ورته پيغور د بدرنګۍ ورکوي

۵ سلواغه ۱۳۸۷
نوا راډيو -کابل

چې سور سالو درنه چاپيره وي او ته يې منځ کې
لکه د ګلو دايره وي او لمبه يې منځ کې

زړه يې شين کانی و چې سيوری پرې د مينې وشو
داسې رامات شو چې راوختې اوبه يې منځ کې

خوب مې ليده چې ته په لوړه وې ولاړه خاندې
يو خوا او بل خوا را روان وي غشي زه يې منځ کې

رقيب په وخت د ديدن داسې ناڅاپي راپيښ شي
لکه چې خوله ته ډوډۍ يوسې او ويښته يې منځ کې

شعر د جلان به وي ناڅيز خو ته يې تل ته کوز شه
ميوه ظاهر وي ساده مګر خواږه يې منځ کې

ګلاب سجده وکړه هغه يې تېريده په مخ کې
چې د ذات پيغله ملکه يې تيريده په مخ کې

ملالو سترګو پرې درګرده بلېندې شيندلې
د اننګيو جزيره يې تېريده په مخ کې

زه راغلم مګر باريکيو اجازه رانه کړه
د خوب سل حسنه زمانه يې تېريده په مخ کې

نوره مې هير دي چې د يار کور کلی څنګه و خو
دومره مې ياد دي چې وياله يې تېريده په مخ کې

جلان چې ستا تصوير د زړه په دروازه لګوه
اور اوبه ګډه منظره يې تېريده په مخ کې

۲۲ ليندۍ ۱۳۹۶
کابل

ښکلا سيالۍ ته چې بانه کاږه واږه واوړي
لکه په ضد چې يو او بل ته پښتانه واوړي

چې مهربانه شي ښايست يې داسې وغځېږي
لکه د شنه پټي له پولو نه اوبه واوړي

د قهر قهر نظر لاندې يې مظلوم شم داسې
لکه بې موره ورى چې ګوښى په ليوه واوړي

مينه کوه لکه ګنى بند په بند مه ماتېږه
په عمر خامې هسې نه چې بيا دې زړه واوړي

ته خو يې ډېر ډېر ګواښوې په مرګ خو ياد ولره
د جلان کډه به ډېر ژر له دغه غره واوړي

۲۸ غبرګولى ۱۳۹۶
کابل

خلك ګلان پرې د تغظيم شيندي د زور سړی دی
خنجر يې ځل كوي په سره اس باندې سپور سړی دی

چې ورور مې بر ځي وايي وژنه يې بلا شو درته
ښه ده په څنګ كې مې ولاړ داسې غمخور سړی دی

د باور ملا په هر سړي مه تړه وګوره چې
څوك د كنډو دی څوك د كلي څوك د كور سړی دی؟

په هر انداز په هر قدم دې پام وي ډېر روڼ مخيه!
دلته چې يو ځلې څوك تور شو هغه تور سړی دی

د خپل كرم او ستم منځ كې دې انډول وساته
نازك جلان نه د اوبو دی نه د اور سړی دی

۲۰ تله ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

زما اوښکې يې سينې ته اړولې
سپينې شګې يې چينې ته اړولې

شرميده خپلې خبرې يې خوړلې
اينې يې اينې ته اړولې

د افغان کلتور شهکار تصوير يې راکړ
غوړې څڼې يې چمبې ته اړولې

چې وجود به ترې زما وجود غوښتلو
سرې سکروټې به يې خولې ته اړولې

غله جلان ترې هغه وخت کې ولجه وکړه
چې پردې يې دروازې ته اړولې

۲۳ مرغومی ۱۳۹۳
کابل

خپلې مينې خپلې حيا وخوړو
ورك شوو لكه ستوري رڼا وخوړو

لرې دوه ګلان وو د بيديا پر مخ
رانه غله څوك بيرته بيديا وخوړو

ډېره مو پښتو پښتو پلله خو
دې پښتو همدې ناروا وخوړو

اور د زمانې مو تر پښو لاندې شو
بس لكه لوګي وو هوا وخوړو

وخوړو جلانه اوس به څه پوښتو؟
نوش‌جان چې هرې بلا وخوړو

نه نه منم چې زور د ستا د ځوانۍ شورکې نه و
دومره سرور خو د سپرليو په شنه اور کې نه و

څنګه رانڼوتې وجود ته څنګه زر ووتې؟
لکه چې ستا د خوبنې ور شی په دې کور کې نه و

تا يې ملاتړ وکړو د ستا په مرسته مخ ته راغی
رقيب به زور کې و اشنا خو دومره زور کې نه و

رنګين تاوان مو وبايله څه په دوسه ګټه
خوږ ژوند په درد کې و خوږ ژوند خو په ټکورکې نه و

نه يې ليدو په ټوله مينه ورنيږدې شو جلان
د کتو تور د زمانو د سترګو تور کې نه و

وږې اروا وې ګرځي درد کې را ایساره به شي
ډېره د ګلو منځ کې مه کینه بیماره به شي

په شنه ګیډۍ کمیس کې مه ګوره هینداري ته ډېر
نه چې ښایست دې کم شي خدای مه کړه هینداره به شي

څومره خوږه یې خو که ما هم شات د مینې درکړل
پوهیږې؟ سل چنده له دې نه مزیداره به شي

سترګې په سترګو زړه په زړه دا مینه ناکه فضا
مه کوه داسې د سکروټو په سر لاره به شي

د جلان شوخه شاعري ده د تقوا ملکې!
ډېره یې مه لوله قربان چې ګنهګاره به شي

ژوندون راډیو تلویزیون
کابل

تر څو به ژوند کوو په وینو جنګ او کرکه باندې
راځی چې کیږدو دا ناولې وسلې ځمکه باندې

اوس د غېچ وخت نه دی په دې کار فکر نه دی پکار
فکر پکار دی د افغان د تبر ورکه باندې

غوا د بل ننګه کوچ شیدې مستې هم بل اخلي
مونږ ولې ځان وژنو؟ د شنو شړومبو غړکه باندې

د پښتون ژوند او مرګ شو اوس د ماشومانو لوبه
راځي تیرېږي اکو بکو سرسندکه باندې

توره بلا شي هغه موږ پسې شي و جلانه!
مونږ چې تکیه وکړو په سپینه ملایکه باندې

٢٩ لیندۍ ١٣٨٩
نوا راډیو - کابل

له اور ورین درده مې تن کې شړۍ هم خولې شي
اواز چې سور واخلي نو ډډ د شپیلۍ هم خولې شي

زړه چې راډك شي نو اثر يې شي ليمو کې اوښکې
تېجنه خونه کې شیشې د کړکۍ هم خولې شي

د مينې تاو کې به دې زړه څکه په جوش کې راځي
وريښمين ټوکر کې يخ وهلې ډوډۍ هم خولې شي

په صبر صبر صبر پوخ شم څکه وژاړمه
اوږده مزل کې د پښو وازې څپلۍ هم خولې شي

خدای دې ها وخت زر راولي چې د جلان په غېږ کې
دغه د کوچو غوندې سپينه نجلۍ هم خولې شي

۱۲ ليندۍ ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

نه پخپل ځان یم نه مې ځان لپاره زړه خوږیږي
ما مې په ځان د بل انسان لپاره زړه خوږیږي

چې درد سلګۍ اوښکې ژړا یې په وجود تیروي
ما د هغې هاغه ارمان لپاره زړه خوږیږي

د ټول بشر د ټول جهان په غم غمیږمه خو
ډیر مې د ګران افغانستان لپاره زړه خوږیږي

د سیکه مخې زمانې په دې تاوده بازار کې
اوس مې په خدای چې د ایمان لپاره زړه خوږیږي

زما که ژوند وي په سکروټو خیر دی تیر به شو خو
جلانه! ډیر مې د جانان لپاره زړه خوږیږي

۱۷ تله ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

نه د ګلاب قدر کوي نه د نرګس لېوني
ښکلا پرست ځانونه بولي د هوس لېوني

د بدبختۍ د ګرمۍ تاو شو تر دې حده چې اوس
ناست د ولس وينو ته تږي د ولس لېوني

خامه ښکلا دې په اووه شالو کې پټه ساته
رارسيدلي دي تر کوره تر جوس لېوني

سبا به بيا د چا د ژوند مينار راونړيږي؟
نن شپه خو بيا شرنګوي کلي کې جرس لېوني

چې زمانو ته ځان سپيڅلي وښيي جلانه!
زما او ستا په اوښکو بيا کوي اودس لېوني

۱۶ وږي ۱۳۸۹
کابل

که له يوې خوا مو پللي پښتني خويونه
له بلې خوا مو دي وژلي انساني خويونه

اخېر ترڅو به د وژنې په دود فخر کوو؟
اخېر ترڅو به کوو دغه ليوني خويونه؟

پردي ګرم نه ګڼم پردي دي خو پوښتنه داده
چې مونږ کوو ولې له ځان سره پردي خويونه؟

منې په لاره به چې تلم ما وې چتيږي ځمکه
اشنا يو وخت مې لرل دغسې ياغي خويونه

دادي په سر کې يې سپين هم ولګيدل ملګرو
مګر پيدا نشول جلان کې د سړي خويونه

۲۹ کب ۱۳۸۸
نوا راډيو -کابل

همیشه درد دی غم دی ویر دی چیرې ښاد نه شومه
د خپل بدرنګ تقدیر غلام یمه ازاد نه شومه

په دې پیرۍ کې کاڼي ساه اخلي تر ستورو رسي
مګر زه بر پخپل کوچني غوندې مراد نه شومه

زما وجود شکر د سکروټو دی د ګلو نه دی
زه فطرتاً په اور اباد یم ګل اباد نه شومه

د ده د هر غم اولین د یاد سړی ومه زه
خو چې پرې وخت د خوښۍ راغی بیا یې یاد نه شومه

چې زه جانان ووایم دی راته قربان ووایي
جلانه! خوښ چیرې په داسې خواږه داد نه شومه

۱۵ مرغومی ۱۳۸۸
نوا راډیو –کابل

غمي غمي شګې په ځان را اړوم لګیا یم
ستا د اوبه اوبه وجود چینه چیکم لګیا یم

سترګو کې مسکه اوسه مخ مه اړوه ګلابې!
د روح غذا مې له خوږو پوره کوم لګیا یم

زړه مې دربیږي ساه مې بنده بنده کیږي راغلم
د خوب کوټې شاه ته دیوال درټکوم لګیا یم

ته د خواهش په لمبو ځان سینګاره وه تر هغې
زه د توبو تندي درګرده ماتوم لګیا یم

بې درده خلکو ته د درد سندرې وایم جلان
په شاړو ځمکو د نرګس تخم کرم لګیا یم

۲۱ غبرګولی ۱۳۹۸
کابل

ستوری دې له لاسه ورکړ لمر درته روښانه شو
وړانګې دنګې وړانګې! لروبر درته روښانه شو

غرونه به سجدې وکړي د ستا عزم خلې ته
دادی مبارزې ! بل سحر درته روښانه شو

وینه د ارمان به په تندي د حماسو خاندي
مخکې ځه تر شاه پښتون ټبر درته روښانه شو

تور اژدها وله د پښتون د ننګ په سپین غشي
شور د ازادۍ د سمندر درته روښانه شو

ته د منظوري لښکر مغروره سپینه میره یې
زور درته روښانه شو هنر درته روښانه شو

سلواغه ۱۳۹۷/۱۴
کابل

وړانګې لونۍ ته د ارمان لونې د شهادت پرمهال

دا څوك د شپې راغلی و چا کښلي تصويرونه؟
د زړه په ديواله مې ځړيدلی تصويرونه

خوږه خوله کې خوږې کيسې دې څه سره تشبې کړم؟
جانانه دا په ښکلو کې دي ښکلي تصويرونه

وا ګل ګل منظرې په شنه سهار رڼه چينه کې
د کوم ګلاب له لپو بهيدلي تصويرونه؟

ځواني دې ده د ځور له غبار اننګي ساته
ښه نه ښکاري ګلفامه! ډېر مښلي تصويرونه

شايد جلانه! راوړي سندريز انقلابونه
په ښار دې وشيندل د غزل کلي تصويرونه

۲۵ ليندۍ ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

نن يې د نظر په مورګه ناست داسې د شك غبار
لکه شنه کنډو باندې راپورته شي غمبك غبار

پېښن چې په رقيب شو رنګ شي تت د زړور اشنا
ښه جوت شي شپه کې بل ځراغ ته د سرك غبار

قهر او سرخۍ يې په شدت اننګي ونيول
ګډ شول د ګلابو په اوبو کې ځرورك غبار

خدای دې ژر د سولې او د مینې فضا جوړه کړي
خدای دې ژر له زړونو او فکرونو نه کړي ورك غبار

وجلانه! يار نه مرورېږمه په نه کيسه
لويې فاصلې پيدا کوي دغه نازك غبار

۲۳ ليندۍ ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

غمبك : يوځايي

هغې په خپل وجود کې ښه احساسوله ماتې
چې احساساتو یې حیا ته ورکوله ماتې

وا د حسینې ګونا اور کې څومره زور پروت و
په ډبرغرغوندې انسان یې ومنله ماتې

هغه مهال چې سره او زیړه اوښته له شرمه
ما یې د کیف په شررناك انداز تلله ماتې

برګ په ژړا شوه ویې خدای دې ځوانيمرګ کړه وړکیه!
چې په تندي د پیغلتوب یې ولیدله ماتې

ماته به شوه جلانه داسې چیرې نه وه ماته
لکه چې نن یې وخوړله مکمله ماتې

۲۷ لړم ۱۳۸۸
نوا راډیو - کابل

د عشق شوخۍ کې داسې خوږ بوی له اشنا نه راځي
ته وا سيلۍ د ګلابونو له صحرا نه راځي

پوهېږم نه چې ځوك دی څه کوي؟ چې شپه نيمه شي
ورو ورو شرنګا د ديواله له هغې خوا نه راځي

مونږ چې تکيه پرې وکړو ځوك رښا د زړو وګړو
منې بلا د همغې رښا له شا نه راځي

وخت هميشه زما ولس ملامت بولي مګر
د دې وطن رنګويه هر وخت له پاچا نه راځي

چې په خندا راغاړي وځي هغه وخت جلانه!
په ټول بدن مې زلزله د زړه درزا نه راځي

۲۰ عقرب ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

داسې څوك به نه وي په دې چم کې چې دې خپل نه وي
داسې څوك به هم نه وي چې ستا د خولګۍ غل نه وي

بې له تا مې وګلې! په ژوند کې داسې وګڼه
لکه چې په شعر کې تصویر وي خو مکمل نه وي

کوږ لرګی رقیب دومره شو ښه چې مو یو ځای غواړي؟
ته او خدای جانانه چې په دې کار کې به چل نه وي؟

را به شي په لاس هر څه به سم شي خو زړه وار وکړه
داسې مشکل نشته دی چې لاره یې د حل نه وي

پاڅېږه جلانه! بند په بند یې ځواني ماته کړه
داسې موقعه یوه نیمه په ژوند کې راځي تل نه وي

۱۲ لړم ۱۳۸۸
کابل

کلی کور او سمه غر راپسې اور شو
اور شو اور د ځمکې سر راپسې اور شو

یو مې خپل ساده توب بیایي د مرګ خولې ته
بل د ستا هوښیار نظر راپسې اور شو

مجبور ځکه شوم له ځان څخه په تیښتې
خپل اخلاق او خپل هنر راپسې اور شو

د تیارو ملکې! ته مې غېږ کې واخله
د رڼا استازی لمر راپسې اور شو

اوس نو سخته ګذاره شوله جلانه!
پورې ورې لر و بر راپسې اور شو

۱ لړم ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

ناز کوه خو مړاوې د نظر رنګونه مه نیسه
ځار دې شم دموم په اور د خلکو زړونه مه نیسه

دا بس دی چې ځان ته دې درمات کړمه غلام دې کړم
نور په ما د نورو خلکو پښې لاسونه مه نیسه

ته چې شوې آسمان د قیامت زه د پرهارو ځمکه
بس راغورځوه راغورځوه تندرونه مه نیسه

زور مې د جذبو د لیوني سمندر نلرې
وخته! زما مخ ته د مړو ریګو غرونه مه نیسه

ته او خدای جلانه! دا غزل دې چې یې ته وایې
هسې پرې د خلکو قیمتي وختونه مه نیسه

۲۶تله ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

لکه زړه، زړه ته نږدې مې يو حسين دی
د وجود کوړکۍ مې واړه په رنګين دی

تودوي د احساساتو پټې خوني
د واورينې ورځې تك زيړ ماسپښين دی

رانږدې شه چې لباس د جلوو درکړم
له غميو نه مې ډك د زړه خورجين دی

چې دښمن هم د جانان غوښتنه کړې
ورسره مې لاس هسك کړی په امين دی

دا له مينې ډك غزل دی د جلان که؟
زرغون اور په ګلابونو کې را شين دی؟

۱۲ تله ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

ستا د بیلتون ږلۍ چې زما د زړه په ځمکه وشوه
دومره بدرنګ شوم چې له خپل ځان نه مې کرکه وشوه

ستا په اول راتلو دې کلي کې راشنه شوه ښکلا
ستا په دویم ځل راتلو دې کلې نه ورکه وشوه

ما چې د چا درنه د خپل وجود په بیه وکړه
باور کوې چې د هغه له خوا مې سپکه وشوه

ماته خنجر تاته شو ګل دواړه یې وځپلو
د مرګ کانه زما په ټټر ستا په پیچکه وشوه

منم جلانه! ظالم نه یې خو پر مخ د ظالم
چې خوله دې چوپه کړه ګیله مې درنه ځکه وشوه

۳ تله ۱۳۸۸
نوا راډیو – کابل

ناز چې د ژړا په انداز ساز شي د ښکلا پر مخ
اور د هیجان شي بلولی د تقوا پر مخ

ډېره رانیږدې نشې چې خدای مه کړه لمبه به شو
مازي باد نه جوړه برېبوکۍ شي د بیدیا پر مخ

ګرم نه یم چې ستا په لیدو خپل زړه لاس کې ونیسم
ماته شي بیړۍ په سخت توفان کې د دریا پر مخ

څه به ستا مغرورښایست تر خپلې ولکې راولم؟
چا نامه لیکلې ده جانانه د هوا پر مخ؟

کله مې جلانه! ښکلې داسې طبعیت ګډوډ کړي
لکه پټکی وران شي په لمانځه کې د ملا پر مخ

۹ تله ۱۳۸۷
نوا راډیو - کابل

درځار شم شونډې کړه هوارې د موسکا لپاره
يو ګل باران غواړو د زړونو د صحرا لپاره

د اننګو په سر د غاښ په خاپو مه شرمېږه
ډېوې ساتي خلك په کور کې د رڼا لپاره

دا چې د هر غزل له پيڅو نه مې مينه څاڅي
ما شاعري ځانګړې کړې د ښکلا لپاره

په شنه سهار درنه جانانه! کوکۍ ځکه غواړم
تازه ميوه وي ګټهوره د روغتيا لپاره

ښايي جانانه د جلان په زړه کې بيا راتاو شوې
سترګې يې لپه کړلې دواړه د دعا لپاره

۲۷ تله ۱۳۸۷
نوا راډيو - کابل

څوك چې خبره د ولس او د وطن كوي
اول دې ځان ته غم د قبر او كفن كوي

غرونو ښارونو بوی نيولی د انسان د غوښو
په هديرو د جګړې جشن اهريمن كوي

د وحشت اوج كې جنوني اور بهوي له سترګو
جنت ګټي جهنمي رقص په بدن كوي

له دښمن څه ګيله ده يا د ګران وطن ناموسه!
ستا بي ابي پخپله ستا لوڼه زامن كوي

زمونږ په ژوند قمار همدا خلك وهي جلانه!
څوك چې د دين په نوم پنځه ګزه لمن كوي

۴ غبرګولی ۱۳۹۸
كابل

پکې راشنې د لذتونو زر رنګه رڼاوې
مهین جانان د ښکلاګانو د هستۍ ټولګه ده

د ګلدرو د ښکلاګانو میره کله راځي؟
ورته ساتلې مې د هیلو ګلالۍ ټولګه ده

پوښته مې مه زما هر ګام د ناکامۍ قرباني
زما زندګي د یوې سترې مایوسۍ ټولګه ده

هغوی پر مخ د ځمکې ستر سپیڅلي خلك بوله
پر چا چې خدای پیرزو د ګل ګل ازادۍ ټولګه ده

جلانه! نن یې د خپل ذوق په شوندو ښه ولوله
دنګه ځواني یې د جذابې شاعرۍ ټولګه ده

۷ سلواغه ۱۳۹۴
کابل

دا چې راسره تل د خوږو لفظونو ډاله ده
اې! يوه شاعره زمانه مې انډيواله ده

تا چې د خپل ګران په نامه ياد کړم له هغې ورځې
شپه مې غلامي کوي او ورځ مې پښو کې تاله ده

مه راوړه قربان دې شم د کرکې لاس دې مه راوړه
زما زړه خو د مينې د زرينې مرغۍ ځاله ده

دغه غوځې شونډې دا سپيره مخ ته مې وګوره
دا زما د سترې ژوندون ژباړه ده ناخواله ده

وجلانه! راشه روماني ننداره وګوره
پټه نري شال کې ګل مثاله ګل جماله ده

۳ سلواغه ۱۳۸۷
نوا راډيو - کابل

ډاله: ډله يا ټولی
تاله: خوره يا غوړيدلې

شونډې يې ګلاب کیسې ورږمې د ګلابونو
بار دي په غونچو باندې غونچې د ګلابونو

ورو د څپو پښې ږده د زیړي مازدیګر باده!
هسې نه چې ماتې کړې اوږې د ګلابونو

ته که مې شاعر زړه ته یو ځل په راستۍ راغلې
زه به درنه ځار کړم زمانې د ګلابونو

ښایي د ذوق سترګې وي ړندې چې نه يې ویني
شته خلك لري لاس کې درې د ګلابونو

ستا جلان د ستا دنګ ښایست له برکته
شکر اوس لوستی شي اینې د ګلابونو

۱۷ کب ۱۳۸۷
نوا راډیو - کابل

د غره نه هاغې خوا ته ته يې دغې خوا ته زه يم
بس مخامخ بلا ته ته يې او بلا ته زه يم

تا که څوك مومي د ګل مخې خندا شا ته به وې
ما که څوك غواړي نو د خپلې ژړا شا ته زه يم

خلك په عشق مقابل لورې نه سر ټکوي
خو په څلور کتاب ګرم جانانه! تاته زه يم

د محبت ويش کې دې دا برخه راورسيده
چې ناست د درد لاندې د خپل غزل رڼا ته زه يم

په يو ارمان کې له اوږدې فاصلې وروسته جلان
رارسيدلی د وعدو تشې صحرا ته زه يم

۱۷ غبرګولی ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

دغه څوك دی چې لمنه وهي شر ته؟
په تياره کې مې ږدي تيږې د کور ور ته

چې ښکلا ته دې درمات شوم څه ګناه ده؟
اينه غبرګون ښيي څرېکې د لمر ته

د خولو څاڅکي يې زنې ته راغونډ دي
ته وا ستوري راټيټ شوي د بام سر ته

خدايه خير بيا به په چا کړي ادې بوره؟
د ښو اوږې يې ورکړلې نظر ته

بل که جوړې د سندرو بنګلې نکړې
نو جلان څه ښکلا ورکړله هنر ته؟

۲۹ غبرګولی ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

له دې ستره خوشالي به په کوم ځی ورم؟
یار چې ماتې قبلوي او زه بری ورم

د یار غم او زه یو بل ته دومره ګران شو
چې په لار ځو کله ما وړې کله دی ورم

نوښت ګران دی خو تر خپل هنري وسه
په مزل کې د غزل به نوی شی ورم

وخته! مخ ته مې خنډ نشې درنه ځار شم
د یوې دنګې تورو څڼو ته ټیکری ورم

نن جلانه! بیا د ځان قتل کومه
بیا په اور لمده نظر پسې زړګی ورم

۲۷ غبرګولی ۱۳۸۸
نوا راډیو - کابل

مات يم مات يم ياره ستا پر وړاندې مقاومت نه يم
غر که هم شم بيا هم ستا د سترګو د طاقت نه يم

خير دى که پيمخو ته مې خوله اوبه اوبه شوله
ګرم لمر ته واوره ولې کېږي ملامات نه يم

مال خو وسيله ده نور نو ته انسان او زه انسان
ته له ما اوچت نه يې او زه له تا اوچت نه يم

زړه مې چې هر ښکلى خوښوم خوښه مې خپله ده
زه خو څه يوازې د يو ښکلي امانت نه يم

وخته داسې زر خو جلان مه بيلوه ياره څخه
لا خو په خوږو او ترخو پوى د محبت نه يم

١١ سلواغه ١٣٨٩
ژوندون راډيو تلويزيون - کابل

نه د لښکر نه د ټوپك نه د تربور سړی یم
زه د بې زړه په نوم د سیمې مشهور سړی یم

چې کاینات هم ترې ښکلا ته تازګي اخلي
زه په هغه زه په هغه پسې رنځور سړی یم

راشه چې پرې دې مینځم نن په شبنمي لاسونو
لکه سپرلی نن په ګلرنګو اوبو سور سړی یم

پښتون یم خو که ته له ما انسان وژنه غواړې
په دغه کار کې نو نه ځوان یم نه باتور سړی یم

د هیندارو مخو زمانو پاچا که هم شم جلان
خو ستا غلام یم اشنا ستا د خولې مزدور سړی یم

۶ چنګابښ ۱۳۸۹
نوا راډیو – کابل

ځومره ساده يم له ډېرې نه رڼا اخلمه
د زړه قاتل نه مې د ښې ورځې دعا اخلمه

خدايزده چې ولې نن د يار د کتو تاب نلرم؟
خدايزده چې ولې قدمونه شاه په شاه اخلمه؟

بيلتون جنت او ته دوزخ که امتحان شې پر ما ؟
بيلتون جنت نه زه دوزخ اخلمه تا اخلمه

بس دا چې چوپ يم څه علت به وي ګڼې له درده
لکه د باد غوندې په غېږه کې صحرا اخلمه

له طبيعت سره مې دومره جوړه ده جلانه!
چې د مار سترګو نه مې هم شعر ته ښکلا اخلمه

۴ مرغومی ۱۳۹۰
ژوندون راډيو تلويزيون - کابل

ګرانې دومره ګران ګران راته مه وایه
سخت به کړې ګذران ګران راته مه وایه

ستا ګل وجود تاب د شبنم نلري
زه دِلی باران ګران راته مه وایه

جار دې له اخلاقو چې مې ځان بولې
خو د ځان په شان ګران راته مه وایه

ته رښا وجود انسان ازاد انسان
زه تیاره زندان ګران راته مه وایه

ډېرې چې خوږې شي کیسې اور کوي
ښه به وي جلان ګران راته مه وایه

۱۲ مرغومی ۱۳۹۰
ژوندون راډیو تلویزیون – کابل

ستا د سپينې ښکلا کور په زړه کې ساتم
واه واه وړانګې وړانګې اور په زړه کې ساتم

ستا خاطر يې مخه ډب کړې ګلابه!
ګڼې توره توره شور په زړه کې ساتم

په انسان مې خوږ ژوند نه لورېږي خدايه!
دا کينه ده که منګور په زړه کې ساتم؟

چې مې تا پسې په چيغو ژړوی شي
ليونيه! دومره زور په زړه کې ساتم

ستا جلان د ستا انځور په زړه کې ساتم
ړوند دې شمه چې به نور په زړه کې ساتم

د ښــکلا انـداز يې مکمل بدل شي
چې نظر يې د ښو په څوکو شل شي

ستا په نه خپل ځان ته داسې شرمينده شوم
لکه څوك چې د اتڼ منځ کې دربل شي

زغم زغم زغم خو اخېر زغم هم په غم واوړي
ستړيا ډېره شي مخ پورته چې مزل شي

کوم ځانګړی کمال نلرم د شعر خو
چې د زړه درد مې راوسپړم غزل شي

هوښياري همېشه ښه نه وي جلانه!
کله کله سړی ښه وي چې پاګل شي

۱۵کب ۱۳۸۹
کابل

غم به درکړي خو بیا غم د خپل غم نکړي
دغه خوی په خدای چې خوند د صنم نکړي

د ښکلا زور به دې زر اوبه شي ګوره!
په ګلپاڼو د بېر خوبونه شبنم نکړي

زمانه څومره ظالمه ده زړګیه!
وس یې رسي خو له قصده کرم نکړي

تر هغې به ځپل کېږي وژل کېږي
دا بې فکره پښتانه چې ځان سم نکړي

ستا په درد باندې د یارڅه دي جلانه!
په لوړ ځای ودان کورونه خو زیم نکړي

۱۵کب ۱۳۸۹
ژوندون راډیو تلویزیون - کابل

وو ایه صفا نن حالات ښه دي په پرده کې دي
څه خو پټ ضرور د ستا په ناز پوښلي نه کې دي

زړه! د پاکې مینې تصویر مه غواړه له هرچا نه
دغه کمالونه یا اوبو یا اینه کې دي

هسې دې زاهده عمر تیر په خلوتونو کړو
راشه رسیدل خدای ته اسان په میخانه کې دي

نه نه چې لومړي دیدن کې روغه رانه لاړه شي
ګوره د واده خوندونه ټول په لومړۍ شپه کې دي

وجلانه! دا ګټه هنر ته تقدس لري
ګوره ځومره ښکلي ښکلي زړونه دې قبضه کې دي

۱۸سلواغه ۱۳۸۹
ژوندون راډیو تلویزیون – کابل

په پوست مخ يې څه کرښې د غصې روانې دي
د ګلو په اوبو باندې لمبې روانې دي

قربان يې له کږو ښو څه ښه خواږه پرې ګوري
د غشو په سرو خامې شيدې روانې دي

توبه خدايه! توبه زړګی مې نه غواړي چې ورشي
پخپل سر مې د يار کوڅې ته پښې روانې دي

اف مرمه خندارويه مخ دې واړوه کنه
بدن کې مې اورزيږې پليشې روانې دي

جلانه تصويرګره! څه خوبي ضرور لرې
غزل پسې دې صف صف اينې روانې دي

هر نظر او هرې منظرې نه مار
ښکاري د حالاتو اینې نه مار

یا مدري یاره! منتر ګرم کړه
وزي دې په خدای چې له اُدې نه مار

ارګ مو د ولس وینو ته بیا تږی
بیا به کړي بهر له ګلخانې نه مار

کله حوصله دښته د ګلو شي
کله شي پیدا له حوصلې نه مار

خلکو ته رڼا له زمانې راځي
مونږ ته خو جوړېږي زمانې نه مار

۱۲ وږی ۱۳۹۳
کابل

رانه مه پوښته چې چا پسې وتلې؟
دواړه شونډې مې په تا پسې وتلې

شوخه باده! پام دې وي شبنمي پیغلې
د ګلونو په مسکا پسې وتلې

خواهشات مې د ګناه د ښار وګړي
په روا او نا روا پسې وتلې

نیمه شپه ده باران اوري سرې منګولې
له کړکې د اور رڼا پسې وتلې

جلان، خیال یې د زلمي غزل لپاره
د ښکلا د ناوې ورا پسې وتلې

۱۲ وږی ۱۳۹۳
کابل

کم عقل نه یم چې له تاندې ښکلا مخ اړوم
ګڼ علتونه لري زه چې له تا مخ اړوم

د زمانې د ګڼې ګوڼې په کاږه بازار کې
کله نه کله مې له کړې سودا مخ اړوم

ما ډاروي له رب دوستۍ ته مې د رب نه بولي
په دې دلیل له ممبر ناستي ملا مخ اړوم

د ښو زور ته دې د ټینګې نه یم اور ګلابه!
لکه زخمي عسکر له درده په شاه مخ اړوم

یو محبت یوه انسان جلانه داسې کړم چې
په اینه کې له همشکلې بلا مخ اړوم

۵ لړم ۱۳۹۷
کابل

وخت که هر ظلم هره تیره راسره کړې ده
خو ما د زغم په دیواله باندې تکیه کړې ده

څه مې پوښتې د رژیدلې ځوانۍ مات خویونه
د غم په داړې داړې خونه کې مې شپه کړې ده

خدایه! باران سره نرۍ سیلۍ را ولوزوې
هغې همدې وخت ته د سپینې خولې وعده کړې ده

تا سره مینه خواخوږي کول په دې مانا چې
د اور په ځمکه مې د ګلو کرونده کړې ده

زما د شخصیت د ماتیدلو هڅې هم وشوې
مګر جلانه! مونږه بیا هم ګذاره کړې ده

۲۴ وږی ۱۳۹۷
کابل

ګلاب يې واخيست اور يې راکړ ما بسنه وکړه
يو مهربـان انســان نن داسې پيرزوينه وکړه

د طبيعت خوله يې په خاورو په ګردو ډکه کړه
بيا يوې دښتې په صحرا کې ځانوژنه وکړه

هرې سيــلۍ به چې د ستا د وجـود وږم راوړه
اول مې ښـکل کړې او بيـا به مې مننـه وکړه

ماشومان ګورئ په سکرو په ديوال کرښې کاږي
داسې کـانه مې نن د خپـل پت پر لمـــنه وکړه

شعر د جلان بس داسې شی و چې هيڅ شی هم نه و
ذوق مې پيکه شو چې بار بار مې پرې کتنه وکړه

۴ مرغومي ۱۳۹۶
کابل

يادونه : د غزل لومړي بيت د هېواد تکړه شـــاعرې اناهيتا روهي د دې کرښــې ( ته وا د طبعيت په غېږ کې دښــتې ځان وژنه کړې وي) په تاثر ليکل شوی.

حالات چې بد شي نو انسان ته حوصله پکار ده
هر حال کې خدای باندې باور په خدای تکیه پکار ده

چې د دوو پاکو مقدسو زړو سوال نه قبلیږي
دا کې به خیر وي د خیر تمه او اسره پکار ده

تشویش شیطان دی د شیطان د ورکیدو په خاطر
د خدای د ښکلي ذکر ښکلې زمزمه پکار ده

که غواړې بر شي ژاړمه قربان قوي اووسه
د دې سرزورې زمانې سره جګړه پکار ده

چې درد شي زیات په جینماز جلانه خدای ته ژاړه
د زړه سکون ته دغه چاره همیشه پکار ده

کوم نالیدلی مې په زړه اوري چې څه کیسه ده؟
خیر وکړې بیا لکه د اور او بارانه کیسه ده

مینه جنګ خوند ښکلا او داسې یې سل نور اړخونه
زندګي څه ده د خواهش د تناره کیسه ده

بمونه تم کړئ د پیچلو ډرامو لوبغاړو
ترهګر نه دي پښتون کور کې د واده کیسه ده

بس لاسبری دی څوك یې خوري او څوك یې ساتي په زور
دلته اوس ټوله د لیوه او د شپانه کیسه ده

ځی ځی مخلوقه! ځی شر مه جوړوئ ځی هله نو
ځی جلان مړ دی د پریوته دیواله کیسه ده

۱۴ لیندۍ ۱۳۹۶
کابل

جوړه به تلو په غرونو په هواره ښومره ښه وه
له کلي نه تر ښاره اوږده لاره ښومره ښه وه

زه دې ته کیسه بول ومه ده ماته کیسه بوله
د زړه د درد سپکوالي ته دا چاره ښومره ښه وه

قربان يې د نظر له جنګه سل جهانه سوله
همغه اورګذاره جګړه ماره ښومره ښه وه

چې پړك به د اسمان شو دې به وای وې ما به اخ
په غېږ کې به مې پټه شوه له ډاره ښومره ښه وه

جلانه! د وجود للمه دې ولې ور اوبه کړه؟
همداسې تنده تنده او خماره ښومره ښه وه

۱۴ لیندۍ ۱۳۹۶
کابل

اوښکې مې نه دي دا بهېږي تنده
په پرهرو کې مې بلېږي تنده

د شبنمي شونډو بلا دې واخلم
ته چې غړېږې نو ماتېږي تنده

چې په ښکلا واوړمه اور اخلم
سختې ګرمۍ کې خو زیاتېږي تنده

بیا په وږمو کې د سپرغیو بهیر
بیا په ګلونو کې غځېږي تنده

هو زندګي مې بې له تا جلانه
سخته ده ډېره خو تېرېږي تنده

۲۰ لړم ۱۳۹۶
کابل

پرېږده ملا پرېږده دا مې زړه غواړي
مینه مسلمان او هندو نه غواړي

سترګې دې ژور ژور راګوري نن
ته وا دوې سوالګرې پیغلې وړه غواړي

پرې مې وت نظر ستا په چکن ټتر
لمر د پرتو غرونو ترمنځ تله غواړي

واوښته د ژوند تقاضا واوښته
تیرې ګوګړګلو نه رانجه غواړي

نور که لورینه کوې ښاده شې
خو جلان په ناز کې پټه خوله غواړي

۲۵ غبرګولی ۱۳۹۸
کابل

یادونه : ګوګړ ګل د پکتیا د جګو غرونو په سر کې کېږي چې سوربخن او زېړ رنګ لري، ښه یې غاټول ته ورته ده.

ورك وم څرګند شومه پر مخ د زمانې دوباره
ما په زړو یادګارو بلې کړې ډیوې دوباره

دمور د ناستې په ځای کیناستم ښه وژړیدم
د مور مزار سره مې وکړلې کیسې دوباره

له هغه غره چې د یار کلي ته یې مخ اوښتی
په زور مې وکړې د جانان جانان نارې دوباره

حالاتو روح د ښایستونو و ځپلی دومره
تلم ګلدرو کې خو راتلې نه ګلدرې دوباره

جلانه! څه به مې د خپل ډك زړګي وایمه خو
سترګې مې یوړې لمدې را مې وړې لمدې دوباره

۷ لړم ۱۳۹۶
آریوب ځاځي - پکتیا

په شګو کې يې پلونه دي دا چرته تلې ده؟
د دښتې په لور لاړه ده که غر ته تلې ده؟

ما شات نبات شراب شيدې شکرې وسپړلې
خوږه ذايقه يې ستا د شونډو سر ته تلې ده

په وينو او په قتل مې لالی غواړي جنت
نو دا لاره خو نيغه دوزخ ور ته تلې ده

ما مه خوروئ زه يم خو زه نشته يمه لويږم
اروا مې د چا سترګو کې چکر ته تلې ده

د پيغلې سيلۍ لاس درباندې ځکه ډېر لګيږي
جلانه دنګه ونه دې نښتر ته تلې ده

۵ وږی ۱۳۹۶
کابل

پر ګلکڅو د مخ دې درومي خولې سپينې اوبه
ثواب دی مونږ ترږو ته هم راکړه د مينې اوبه

نن چې ملا کوي د چتو حورو مستې کيسې
بيګا يې ښې وشرنګولې لونګيني اوبه

بيا د طبعيت د ښکلا لوند روح چا کنډو کړ؟
بيا مو د غرونو له چينو روانې وينې اوبه

مونږ شاعران يو زمونږ دنده خپرول د مينې
مونږ وړيا ورکوو هر چاته زرينې اوبه

جلانه يخ وجود دې نه سپړي تاوده رنګونه
لکه چې ښبنلي دي ساړه شراب واورينې اوبه

۱ وږی ۱۳۹۶
کابل

له ژولنو ارادو منيځم لاسونه
محبت نه دې ورو ورو مينځم لاسونه

د مزدور ژوند مې همدا ترجماني ده
د تنباکو په اوبو مينځم لاسونه

دروغجنه تسلي ورکوم زړه ته
په پيمخو بهانو مينځم لاسونه

شهزاده د ښاپيرو د ښار نه يم
چې په ګلو په شيدو مينځم لاسونه

د ياد سيوري ته يې کيناستم جلانه!
نن به بيا په مړو ايرو مينځم لاسونه

۳۰ زمری ۱۳۹۶
کابل

مړه مې واړه څراغونه وو چې نه وې
ديوالونه مې لاسونه وو چې نه وې

د اوربشو په اوبو مو ساعتيرى و
بې شرابو محفلونه وو چې نه وې

شپې او ورځې خړې پړې اوښتلې
بې نمکه موسمونه وو چې نه وې

جاينماز د غم او وير راته هوار و
د درد ذکر درد لمونځونه وو چې نه وې

جلان سرې سترګې سکروټې ګرځولې
په اورونو کې خوبونه وو چې نه وې

۲۴ چنګاښ ۱۳۹۶
کابل

ښه مې په نره که وي ګټه که تاوان لیکلی
د ژوند کتاب پر پاڼه پاڼه مې جانان لیکلی

سر رانه پرې کړه خو سینه مې څیرې نه کړې ګوره!
د زړه دیوال باندې مې جان افغانستان لیکلی

ما یې قدم نه ګلدرې د ګلابونو څار کړې
چا چې په ما پسې سکروټو کې باران لیکلی

دنیا دوه ورې خونه څوك راځي او څوك ترې وځي
دلته هر چا ځان پسې خپل خانه سامان لیکلی

څو پیړۍ وروسته زمانې به پوهې شي چې جلان
د ښایستونو په وطن غزلیستان لیکلی

۳۰ غویي ۱۳۹۶
کابل

چې ورته ګران ومه هغه راځينې کرکه کوي
څه عجيبه ده ګل د اور کر په ګل ځمکه کوي

ناز ته چې اور د خندا ورکړي سپينه سپينه واوري
ته وا بمبار د شيدو سپينه الوتکه کوي

د ژوند په داسې بې رنګۍ کې باور څنګه وشي؟
لور يې د مور مور يې د پلار پلار د زوی سپکه کوي

لکه د غره غوندې سړی په سينه وري او راوړي
دومره درانه درانه کارونه دا نازکه کوي

جلان دبل په کار کار نلري خپل کار کوي خو
خلك پرې نوم د كبرجن ږدي او نيوكه کوي

١٧ غويي ١٣٩٦
کابل

ست انکار يې په جبين کې سره ناست دی
تربوران بيا په کمين کې سره ناست دي

سپين وجود يې د قهرونو کوربه بويه
شپه پاشونکي ماسپښين کې سره ناست دي

نيغ بانه يې نيم سرتيري نيم داعش دي
بس وژل کوي اچين کې سره ناست دي

پيروان يې د يو بل سرونه ريبي
جنابان په تخت زرين کې سره ناست دي

د تشويش په نيلي سپور ګرځم جلانه!
درد او وير دواړه په زين کې سره ناست دي

۲۸ وري ۱۳۹۶
کابل

اوچت يې هو دومره اوچت خو نه يې
سپين جهنم يې سپين جنت خو نه يې

ګله خبرې دې کوزېږي زړه ته
کوم اور ګلاب د محبت خو نه يې؟

څه سړيخور سړيخور ګورې راته؟
ګرانه! تاريخ د بشريت خو نه يې؟

ځنګه مو اړوې مخونه ځان ته
د جادوګرو له مالت خو نه يې؟

جلانه! ورځ په ورځ ځوانيږې بيرته
د ګلکدو په خوب عادت خو نه يې؟

۲۷ وری ۱۳۹۶
کابل

ما له موقعې نه ګټه واخیسته تیاره مې کړه
غلی وم غلی چې شوه ښه عاطفي یاره مې کړه

ګرم یم چې مینه مې تاوده خواهش ته واړوله
سپینه کوتره وه په وینو کې مرداره مې کړه

د خپل غرور ګړنګ ګړنګ قده را پریوتله
را ړنګه بنګه مې کړه سمه مې کړه لاره مې کړه

هغه خو هسې نازدانه وه مګر ما ساده ګل
دومره ناز ورکړ اخر لاړه ګنهګاره مې کړه

چې ترې راتلمه دومره وژړیده وژړیده
منې جلانه! چې په ځان پسې بیماره مې کړه

۲۲ وری ۱۳۹۶
کابل

زړه مې چوي زړه مې تنګ دی دومره تنګ دی
ته وا دا  ستر جهان ټول په ما را ړنګ دی

لکه شنه لښته په اور کې غونج دراز شم
په اروا کې مې روان بیا د درد شرنګ دی

دا چې نن کوربه د پیغلې خوشبویۍ یم
ما پرون خوړلی بوټی د لونګ دی

سر او پای د دغه تور سمندر نشته
جنګ دی جنګ دی جنګ دی جنګ دی اخر جنګ دی

ماښامونه د خندا جوړ دي جلانه!
بیا په ښي لټ را اوښتی غنمرنګ دی

۲۴ وری ۱۳۹۸
کابل

په احساساتو نه په زور نه په تصميم مې وکړ
چې سرمې ټيټ کړ انسانيت لره تغظيم مې وکړ

ته يو شتمن هېواد او زه لکه افغان مهاجر
دراوښتو ته د ېر مزل په اغزن سيم مې وکړ

زهر يې مړه شول ګلابونه يې را وورول
چې پر مارينو خلکو غږ د هنربيم مې وکړ

زه درته راغلم ته اوده وې بيرته غلی لاړم
ويښه مې نکړلې ديدن مې وکړ نيم مې وکړ

باطن مې زوړ ظاهر مې نوی کړ نو ښه خو نه شوم
همغه زوړ کور يم جلانه! يو ترميم مې وکړ

۱۶ وری ۱۳۹۶
کابل

څه موده په ښار کې داسې اوازه ده
پاچا ځان پسې تړلې دروازه ده

ښکلا وتله په ذوق چې دې شوه خوښه
بس همغه یې معیار او اندازه ده

تر زیړې زنې دې راغلم خفه مه شې
غټو سترګو دې راکړې اجازه ده

خورم یې خورم یې خورم یې خورم نه پرې مړیږم
خامه خوله د نرۍ غوښې دوپیازه ده

د جلان دا نوې نوې شاعري خو
د خوندونو نوښتونو مغازه ده

۱۳ وری ۱۳۹۶
کابل

مونږه  په ده او دی په بل پسې روان سرتیتي
خانه خراب کوي تاوان کې هم تاوان سرتیتي

پاچا د ستا پر وړاندې هیلې د تولنې څه وې؟
د غره په وړاندې خو مدام وي بیابان سرتیتي

د حسن باغ ته دې له لوند مخ نه اوبه ورکوو
مونږ ساتو درته  په سترګو کې باران سرتیتي

زما غرور زما ځواني دې په لمبو ولې شي
خو خدای دې نکړي په همزولو کې جانان سرتیتي

که یوه ورځ وي که هر څنګه وي خو تېره به شي
مګر جلانه همیش نه کیږي ګذران سرتیتي

۸ وری ۱۳۹۶
کابل

چې پرې باور مې و هغه باور ته پاتې نه شوه
د ژمي يخ سیوری يې خوښ کړ لمر ته پاتې نه شوه

زاری مې د برې وکړې پښو باندې مې هم ښکل کړه
مګر هغه د مینې دې منظر ته پاتې نه شوه

زه چې يو څه وم نو تړلې لارې هم وازې وې
خو چې شوم هېڅ لار مې د هیچا ور ته پاتې نه شوه

چې د زرګر په اور نظر انداز مې وتلله
طلا په رنګ طلا وه اصل زر ته پاتې نه شوه

حق يې لرلو خو جلانه ما يې وس نه لره
شالې لیلو مې کتانې څادر ته پاتې نه شوه

۲۸ کب ۱۳۹۵
کابل

هر څه چې کوي او وايي بلې او جار وايمه
نه وي مخ او شاه د سیوري څه به له يار وايمه؟

زړه! ولې د بند مرغه په شان سینه کې خیز وهې؟
تم شه ځوانیمرګه! خو چې را دې شي وار وايمه

خلك مې بې‌کار ګڼي خو څه کار چا له ما سره
زه د شنو خالونو شمار ته ډېر ښکلی کار وايمه

ویش وای کلیوال خلك کوي راته او زه ورته
سپینې مزیدارې د سپین مخو د ښار وايمه

دومره خبر لوڅو ویرولی یم جلانه چې
خپلو اولادونو ته کیسې هم په ډار وايمه

١٢ غويي ١٣٩٨
کابل

چې ستا خوږې خوږې خبرې لاړې
ما نه سندرې لرې لرې لاړې

ته خو په خپل خواهش کې ډوبه غرقه
زما دې ماتې کړې وزرې لاړې

دا یې خندا په خوله کې وژوله؟
که په اوبو کې مرغلرې لاړې؟

څومره سرونه به بیا ورنګوي؟
د ښار په سر شغ شغ ډبرې لاړې

جلان د ډېرو جنګیو خوښ و
بس چې ته راغلې نو کوترې لاړې

۲۳ سلواغه ۱۳۹۵
کابل

څومره ښکاره ننداره د ژوندۍ روانه
په ګل قدم مې د زړه ځمکه کې سپوږمۍ روانه

کله نه کله لورینه د خولګۍ خو کوه
خوار او غریب ته وي د مړو په شپه تتۍ روانه

په اننګو دې په رانجو لړلې اوښکه درومي؟
او که په سره غرمه په شګو کې کوچۍ روانه؟

پټ مو د کومې بدبختۍ سیلۍ ته مخ شوی چې؟
ستا لوپټه لوېږي له ما نه مې پګړۍ روانه

په ګڼه ګوڼه د زمان کې شاعري د جلان
لکه ځنګل کې وي څپه د موسیقۍ روانه

**۲۵** سلواغه **۱۳۹۵**
کابل

تتۍ: له وریژو او شوروا ډکه کاسه یا له شیدو ډکه کاسه.
د مړو شپه: عاشورا شپه

خدايزده چې به مات وربانديې سر چا وي؟
سر به يې وي ايښې پر ټټر چا وي؟

ولې کنجوسي کوې پخپل حسن؟
ګوره کنه لمر کې حق د هر چا وي

چا سره کيلي يې د لومړي ديدن؟
خلاص به د دې سپينې کعبې ور چا وي؟

هو ته خو منکره يې منکره خو
جوړ به په خامکو مې ټادر چا وي؟

نن چې جلان ګوره ګوره ګوره دی
زړه به يې ښکل کړی په هنر چا وي

**۱۵ ليندۍ ۱۳۹۵**
کابل

یوه دښته تږې د باران په ملغلرو پسې
زړه مې خوږېږي د یو چا خوږو خبرو پسې

کاشکې ګودر شمه د هغو کلیوالو پیغلو
چې کلیمدارې یې زنګیږي په ټټرو پسې

زه څنګه درشمه قربان توان د الوت نلرم
ما خو تړلي دي ډبرې په وزرو پسې

سترګو دې داسې منظرې په رنجو جوړې کړې
لکه خوستۍ نجونې چې لاړې وي ګورګورو پسې

خیر دی که زه یې نه یادیږمه جلانه مګر
د ګلو غرونه دې روان وي په ملګرو پسې

۱۵ غبرګولی ۱۳۹۸
کابل

ماتې چې پردې کړي اور راوچوي
ځان ته مې نږدې کړي اور راوچوي

ښکل یې کړم له شرمه ښکته وګوري
ټیټې چې جنډې کړې اور راوچوي

دښته د وجود مې ګڼه ګوڼه کړي
څڼې چې رمې کړي اور راوچوي

ډک له جنتي کیف انګوري ګانګي
څوړند په سینې کړې اور راوچوي

خدایه جلان مړ په توره تبه کړې
سترګې را خوږې کړي اور راوچوي

۱۹ سرطان ۱۳۹۸
کابل

درد ناهیلي مې په کینه واوښته
مینه د اور په زمانه واوښته

پرهري زړه مې اخېر وشړیده
غنم دانه په غم دانه واوښته

چې ورښکاره مې کړه غمجنه څېره
له ډېره درده اینه واوښته

په باریکیو کې خرپا لاړه چې
د شاه ویښتو ته یې شانه واوښته

جلانه ستا شاعري څه وه خو بس
ښکلا چینه په اورچینه واوښته

۴ لړم ۱۳۹۵
کابل

ننداري ته شهکارونه مې پکار دي
د وطن څو انځورونه مې پکار دي

چې فصلونه د رنګونو په ناڅا کړي
زرغونه حسنه! اورونه مې پکار دي

پر جبین یې د نظر کیږدی وهمه
د دې دښت سیلۍ بادونه مې پکار دي

چې د ګرمو خواهشاتو زور پرې مات کړم
د سړو شونډو غړپونه مې پکار دي

یوې پیغلې ویل چې و جلانه مړې شې
شپې ته راشه څراغونه مې پکار دي

۱۵ غبرګولی ۱۳۹۵
کابل

په نیم‌ژوندو تصویرونو کې روان یم
په هوا او دیوالونو کې روان یم

د سکون غاړه به کله غاړه راکړي
د دردونو په سیندونو کې روان یم

د وطن شکې غبار راباندې اوري؟
که د ګلو څراغونو کې روان یم؟

په اوده نظر خواږه خواږه راګوري
بس اوبه اوبه خیالونو کې روان یم

شاعرۍ دومره محبوب کړمه جلانه!
چې د زړونو په کورونو کې روان یم

۴ کب ۱۳۹۴
کابل

هو هغه سپینه ده ناز خوله هم یې کیسې سپینې
سړی به څه ووایي وي خو اینې سپینې

چې قرباني د کومې پیښې شو د سږ کال ژمی؟
د واورو پیغلو خو را نه وړې لوپټې سپینې

د خوښې ډکو ډکو سترګو تصویر څنګه جوړ کړم؟
بس خو د شنه فصل په منځ کې دي چینې سپینې

زما د ښار د بادرانو جټې داسې ګڼه
لکه چې تورې دروازې وي په چنې سپینې

جلانه! څنګه به مو تبه ورته ونه نیسي؟
سپینو اوبو کې چې اوړي په سینې سپینې

۵ کب ۱۳۹۴
کابل

ګل يار چې ښکلې بهانې جوړوي
ته وا ښکو نه جامې جوړه وي

خوږو خبرو کې مسکا ګډوي
له اينو نه اينې جوړه وي

څوك چې مات زړونه جوړولی نشي
نه دې جومات نه دې کعبې جوړه وي

چې د رنځورې ارادې غلام وي
هغه به څنګه زمانې جوړه وي؟

ژر به را شنه کړي موزيکاله رڼا
جلان سندرو نه ډيوې جوړه وي

۱۲ سلواغه ۱۳۹۴
کابل

نن مې طبعه داسې جوړه ده غزل ته
لکه پيغله په خوښۍ لاس کړي تمبل ته

د اوربل سيمه يې بيا ده ګډوډه
بيا ځانمرګي ننوتي دي کابل ته

مجبوري مې ده د زړه بخښنه غواړم
نابللې دې راپېښ شومه محفل ته

د منزل د ګلابونو وږمې راغلې
هله ښه واخله لږ زور ورکړه مزل ته

څه ياغي دې خلک تښتي له اجله
خو جلان په ګډيدا ورځي اجل ته

۳۰ لړم ۱۳۹۴
کابل

چاته بلنه بیا د قتل او د جنګ ورکوي؟
بیا په رانجو باندې اوږدو باڼو ته ونګ ورکوي

ژوند مې حالاتو ته په داسې مرحله کې سپاري
لکه اوبو کې څوك نیم ډوب سړي ته لنګ ورکوي

باداره! بیا مې کړه یو ځل د هغه کلي ماشوم
چې جنکۍ یې ماشومانو ته لونګ ورکوي

بس د لطیفي زمانې مهرباني به وي چې
د اور غبار باندې د زړه شیشو ته زنګ ورکوي

جلان هغې جلکۍ ته ډېره شاعري کوي چې
په خواږه غږ د طبیعت ښکلا ته شرنګ ورکوي

۱۳ لړم ۱۳۹۴
کابل

ونګ: تېره یا تېز

دا وخت کې همدا غنیمت دا دې پیغله پاتې وي
مخ په شیدو مینځه چې ښکلا دې پیغله پاتې وي

مات دې شي سرونه خو پګړۍ او د ټیکري په سر
شنه را زرغونه درانه حیا دې پیغله پاتې وي

مینځې مو د زړه له سردرو نه په شغلو غبار
خدایه! د پاسته باران بریښنا دې پیغله پاتې وي

پرېږده چې ثواب ورته نیني نیني نیني کوي
پرېږده د لذت د اور ګناه دې پیغله پاتې وي

وایي یوه ښکلې راته داسې چې جلان جانه!
ستا د شوخانه غزل شرنګا دې پیغله پاتې وي

۲۰ تله ۱۳۹۴
کابل

ستا په ګل وعدو زړه تړل دغسې يې وګڼه
اور دی په اوبو بلول دغسې يې وګڼه

څه پوښتې چې شعر ليکل د درد پر مهال څنګه وي؟
بس لکه اولاد زېږول دغسې يې وګڼه

څه ترجماني به د وطن د جګړې وکړمه؟
خاورو ته د نسل سپارل دغسې يې وګڼه

مينه په پښتون محيط کې مينه پالل مخ ته تلل
کاڼي په تندي ګنډول دغسې يې وګڼه

ته که د جلان په لاس راوړل غوارې نو ځار دې شم
خيال په اينو کې کتل دغسې يې وګڼه

۲۱ غبرګولی ۱۳۹۷
کابل

څه رنګه ښکه یې ولاړه د انځور لپاره
ښکلا پاچا تن دې تیار دی د سرور لپاره

مونږه د ګلو او هیندارو غځیدلې لارې
لالیه! ستا د قدمونو د غرور لپاره

خیر دی که زړه مې محبت ته په ګونډو کړی یم
زشتې خبرې پکار نه دي د مجبور لپاره

راغاړې وځه هیٔ! قربان دې شمه مه شرمیږه
هندوې ناوې ټیټوي سر د سندور لپاره

خیال د جلان روان شو داسې مینه ناك غزل ته
لکه د پیغلې لاس چې اوږد شي د انګور لپاره

۲۶ کب ۱۳۹۶
کابل

ځنګه تشبې کړم دغه پيغلې کليمدارې ونې؟
بس د ښايست په جزيرو کې دي هيندارې ونې

مونږ د هر مشر په وړاندې حيثيت دومره لرو
لکه تېرېږي په روان موټر د لارې ونې

د دې وطن لوښه په تبه د غربت کې داسې
ته وا چې پټې په غبار کې وي ګلدارې ونې

برندو بانړو ته يې اوبه د ناز ورکړې دي که
د پسرلي په خوشبويۍ ناستې خمارې ونې

جلانه! خود به مو ډېرو باندې خلک ولي
مونږ کرلي دي په زړو کې ميوه دارې ونې

۲۶ زمری ۱۳۹۵
کابل

اور په ګل، ګل په کمرې عکسونه ګورم
نیمه شپه ده د هغې عکسونه ګورم

چې یې مینه مجسمه کړمه ځان ته
چار چاپیره د کعبې عکسونه ګورم

د هنر د سمندر څپو کې ناست یم
د نغمو د جزیرې عکسونه ګورم

ډکومه د زړګي البم لګیا یم
خاطرې دي خاطرې عکسونه ګورم

د اوبو غاړې ته ناست یمه جلانه
د یوې ماتې منارې عکسونه ګورم

۱۰ مرغومی ۱۳۹۶
کابل

چې معشوقه دې په باران کې وي تر خوا روانه
سړی احساس کې وي د سرو ګلو دنیا روانه

زاهده! ته زما د مینې مخه ولې نیسې؟
وساده! تار باندې تړلی شي هوا روانه؟

دلته که ځان ساتي په ختهو کې ژوندون تېروه
دلته پاکۍ پسې په ګام ګام کې بلا روانه

کوم پړانګ نظر یې په هوسۍ هوسۍ وجود پریوته؟
چې له محفله ترهیدلې ورخطا روانه

جلانه! بیا یې د راتللو غږ دی تبه مې شوه
جلانه! بیا مې د زړه ځمکه کې درزا روانه

۷ چنګابښ ۱۳۹۶
کابل

زما په ژوند او فن تاثير د چا کيسې نه کوي
ګورئ! نکريزې ورکوي رنګ خو لمبې نه کوي

بيګا دوې مړې ستر ګې راغلې وې او ويې وژلم
چا ويل چې مړي مزل نه کوي حملې نه کوي

مونږه د غره خلك قايل يې تمدن ته يو خو
ښاريان دې هم پر مونږ بې ځايه سمانې نه کوي

درسته ده مونږ به خپلې غبر ګې ستر ګې وتړو خو
هغه دې هم د بام له سره اشارې نه کوي

که په معيار او دلايلو وي نقد ، نقد کړئ جلان
ګنې نقاد دې اوتې بوتې تبصرې نه کوي

۲۲ وری ۱۳۹۶
کابل

سمانه : ځان ښودنه او غرور.

څه ووایي سړی چې یار په څه وخوړېده؟
د خپل ضد په ډبرو ښوییده وخوړېده

په ګرمو احساساتو کې اورغر و رابهر و
چې بېرته خپل وجود ته ستنیده وخوړېده

له ډېرې مودې وروسته اینې ته مخامخ شوم
په خدای چې پخپل ځان باندې مې زړه وخوړېده

په سیوري سیوري خوب و تر دې حده نازك شوی
چې مازې د لمر ځرك پرې پریوته وخوړېده

جلان څه ګرم؟ جانان و بس د شاتو غوندې خوږ و
یو څه په اشتها مې وخوړه وخوړېده

۳۰ لړم ۱۳۹۴
کابل

خلکو له شوقه په محفل کې جنګولې شمعې
خو مونږ له درده په محفل کې ګرځولې شمعې

د باد عادت مې پېژنده خو بیا هم ما لېونې
ورته په ریګو کې در ګرده بلولې شمعې

د خپلو اوښکو په اوبو مې تنده ښه ماته کړه
لکه د شپې غوندې مې ډېرې وخوړلې شمعې

شاید څادر د رڼا خپور شي د وطن پر غرونو
بیګا د ستورو له لاسو را ښویدلې شمعې

څومره نازکې منظرې به وې جلانه ګله!
ما او جانان به چې له ګلو جوړولې شمعې

۴ لړم ۱۳۹۴
کابل

پـه خوږو خوږو خبرو کې مو ژوند دی
د ګلدار مرغه وزرو کې مو ژوند دی

د پاچا په غوړو غوړو وعدو پایو
څه د خوږ پستو ډبرو کې مو ژوند دی

د قدرت طبیبه! لاس د ټکور راکړه
د دردونو په ژورو کې مو ژوند دی

زړونه ځان ته اینې کړي بیا یې یوسي
په سپین غږو جادوګرو کې مو ژوند دی

د جلان سره په یو ګاونډ کې اوسو
په غزلو په سندرو کې مو ژوند دی

۱۷ لړم ۱۳۹۴
کابل

چې په خیال کې دې ګلاب جمال ته کینم
بس نو غلی د خپل زړه دیوال ته کینم

هغه وخت د مینه ناکې نړۍ خان شم
چې د څهو خوشبویۍ کې شال ته کینم

چې ستا مینه او نفرت دواړه انځور کړم
بس نو یاره یو عجیب سریال ته کینم

دا چې وایې ښکلوه مې مه وبال دی
خیر دی خیر دی زه دې دې وبال ته کینم

بس لمن لمن کیسې راکړي جلانه
چې د شپې د بام په سر شمال ته کینم

۱۷ وری ۱۳۹۴
کابل

وخته! شاهد اوسه اعزاز به مو په چم راشي
که ژوند وي ستر بریالیتوب به تر قدم راشي

خدايه څه کېږي که زمونږ په وچو وچو شونډو
يو څو شيبې د یوې خوږې مسکا شبنم راشي

وبه مې وژني مګر مات به مې هم چیرې نه کړي
را دې شي زما په سر دې غم د پاسه غم راشي

چې پرهارونه د خپل درد په تار او ستن وګنډم
پس له هغې څه؟ که ټکور راشي ملهم راشي

په چا او چا پسې به نه ګرځې جلانه ګله!
داسې شعر وایه چې په خوله د دښمن هم را شي

۱۳ غويی ۱۳۹۴
کابل

دا رانه مه پوښته چې څنګه مې رواني اوښکې؟
زما د زړه د موسمونو ترجماني اوښکې

چا ور ونه کتل ګنې ما خو په ډېرو شپو کې
د چا د ياد په کنډرونو کړې روښانې اوښکې

يا د ديدن شپانه! قربان دې شم رادرومه کنه
د مخ هډوکي غوښې خوري رانه ليوانې اوښکي

منې! هغوی راته پيغور د ډېرو اوښکو راکړ
ما چې په ډېره مينه چاته کړې قرباني اوښکې

بس ترېنه جوړ شي د جلان يو سوی لوی غزل
چې سره يو شي شاعراني او ناتواني اوښکې

۲ غبرګولی ۱۳۹۴
کابل

ښکلا تږې ذوق يې هله تاوولو
چې ګلاب يې له اوربله تاوولو

ظلم مه کوه د هغو تپوس وکړه
چې ديوال يې له کابله تاوولو

پوهيدم به هغه وخت چې عاطفي ده
چې يو لاس به يې له بله تاوولو

درته وې مې لوپټه به دې اور واخلي
د سکروټو شکور دې خپله تاوولو

څه شوه څه شوه هغه مسته جلۍ څه شوه؟
چې جلان يې په منګوله تاوولو

نن هغه مغرور خندل راباندې راغی
د سکروټو ښار کې ګل راباندې راغی

هم يې زړه يوړو او هم يې ملامت کړم
توبه څه خوږژبی غل راباندې راغی

دا بيګا د شپې چاودنه دومره سخته
ما ويل که ټول کابل راباندې راغی

اوردره مې د فطرت اوبه اوبه شوه
چې شمال د لوند اوربل راباندې راغی

تا ويل جلانه! يوه خبره وکړم
ما ويل جار دې شم غزل راباندې راغی

۱۷ زمری ۱۳۹۴
کابل

شيبې دي او ساعتونه دي په شپې باندې اوړي
د نه راتللو رنګ دې په وعدې باندې اوړي

چې کله مې غوښتنه خوله کې وچه کړې په نه
جوپې جوپې سکروټې مې په خولې باندې اوړي

دا دنګې اينې دي چې زرين ماهيان پرې خوري؟
که پيغلې په اتڼ کې په سينې باندې اوړي؟

زه څه ملامت عشق و ياغيتوب و رانه غاښ شوې
ليوان کله تم کېږي چې رمې باندې اوړي

جلانه خدای دې خير کړي د بانو بازار ته راغلې
په دې ځای کې ډېر خلك حادثې باندې اوړي

۱۷ وری ۱۳۹۴
کابل

دا په وجود باندې ګل وار د زندګۍ ومنه
خير دی لاليه! مين زړه مې په ډالۍ ومنه

تندی راتېټ کړه لګومه پرې د شونډو ګلاب
دا ښکلی مهر په شګون د ازادۍ ومنه

يا د ښکلا د موسيقۍ استادې جار دې شمه
ګوره به کېږدم درته ما په شاګردۍ ومنه

اغزنه شپه يار ته ورتګ مشکل و ډېر زړګيه
احسان پر ځان د خپلو اوښکو د سپوږمۍ ومنه

کوږ فکر ټيټ ذهن او شوم دور کې شعر د جلان
دا نو په تيږو کې روانې سپينې پۍ ومنه

۳ وږی ۱۳۹۷
کابل

په زور د خواهشاتو شرنګیده ولمبیده
بیګا په جنتي موسم کې شپه ولمبیده

په اور د عاطفې یې دړې وړې پیغلتوب
په اور د عاطفې کې بلیده ولمبیده

د شاتو کټوري یې په لمن کې ماتیدم
د خدای په رنګینو کې هغه ولمبیده

ډیوې چې مو د سترګو بلولې هغه وخت
په زړو کې مو دلچسپه منظره ولمبیده

جلان وم د لذت په ارزښتونو باندې بر
په غېږ کې مې د مینې زمانه ولمبیده

۲۸ سلواغه ۱۳۹۲
کابل

بې‌وسه ژوند مې مخ ته پروت لکه د مړي غوندې
له پښو لاسو نه مې دم وتی د توی وړي غوندې

شيبه شيبه د دې امکان دی چې مې ساه زندۍ شي
حالات مې تاو دي له وجود د زهرو پړي غوندې

زه به د ژوند د ښایستونو منظر څه وګورم؟
په غبارونو کې يم ورك د ژرندي ګړي غوندې

چې د خپل خوار نصيب کيسه ورته راونيسمه
مستان مستان ياران مې هم شي طبع خړي غوندې

هغه چې ۀ ېر ۀ ېر راته ګران دی همغه جلانه!
د زړه ګلدان کې مې راشين د اور د زړي غوندې

۲۹ زمری ۱۳۹۳
کابل

پسرلی د هر نظر چې پرې مین دی
د ګلاب د اینوغوندې یې تن دی

راشه څښو نه دې ګنډ د ښکلا جوړ کړم
په لیمو کې مې نیولې درته ستن دی

که پرون د درد اجل اجل سیلۍ وې
شکر نن د یوې زرغونې مینې نن دی

خوش باوره مه اوسېږه په یو ډول
د دې ښار هر یو وګړی دروغجن دی

شین اریوب مې د خاپوړو ځای جلانه!
ننګرهار زما د ګل جانان وطن دی

زمونږ په سر راځي مدام دغسې سپوره تياره
لکه بريښنا چې لاړه شي ناڅاپه توره تياره

چې شجره به يې تر چا او تر چا ورسېږي؟
په دې وطن خوره بې پلاره او بې موره تياره

د زندګۍ خوله مو په زهرو کې لړلې پرته
پرې رابهيږي له لړمه له منګوره تياره

نورو ته دمه د ستړيا ده خو زمونږ لپاره
ډکه له کرکې وينو قتله او له شوره تياره

جلانه! مونږ به د رڼا په نوم څه وپېژنو؟
زمونږه ژوند ګڼه له کوره ان تر ګوره تياره

۱۸ زمرى ۱۳۹۴
کابل

چې ژوند مې ځان کړو ژوند ته ګرانه شومه ماته شومه
د جلان مینه وم چې ځوانه شومه ماته شومه

چې د برینه زمانه وم ښه وم نه ماتیدم
خو چې اوبه شومه اسانه شومه ماته شومه

بس سوړ قیامت دی د سکوت د پڅو تورو لاندې
پخپل وجود کې بندیوانه شومه ماته شومه

چې نه مې غوښتې را روان به وې که وم خو زه وم
چې ومې غوښتې در روانه شومه ماته شومه

ګلاب دره وم د ښکلا د ذات ملکه وم خو
چې بې جلانه بې جلانه شومه ماته شومه

۶ غويي ۱۳۹۲
کابل

امـمم احساسوم دې ښه په مينه د مزې په څېر
ته يې د نوروز خوږې اوه رنګه ميوې په څېر

لاس دربانديې بر د ستمګرو د بدو مه شه
خدای دې وساته د پښتنې د لوپټې په څېر

څنګه ترې نه مخ شم اړولی راته ووايئ؟
ښخه د شيبو په ديواله د اينې په څېر

اوس زما د روح د جزيرې په ټولو خواوو کې
ته راشنه د ښکلې مقدسې منظرې په څېر

لاس په جلان واړوه چې سمه مشهوره شې
خلك به دې لولي د هنر د زمانې په څېر

۳ وري ۱۳۹۳
کابل

دوامدار دې وي او نه دي شي مهار جنګ
خو چې پيل شي د ګلونو په ګذار جنګ

مرورېږه مه خبره وه بس لاړه
خلك كور ته نه وړې ګلې د بازار جنګ

داسې غاړه غړې دوې نازكې شوخې
لكه سره غرمه كې مار سره د مار جنګ

د ظالم جانان په بل چا وسه نشي
بس يو ماته يې ساتلى وي تيار جنګ

د جلان د زړه مينار شو دړې وړې
په فاتحو سترګو وكټلو يار جنګ

سپوږمۍ چې په کړکي کې څنګل ووهي راکیني
یو څوک مې هغه وخت په اوربل ووهي راکیني

مني! چې چاپیریال کړي پیغلې پیغلې منظرې
په پیغلو پیغلو سترګو چې ګل ووهي راکیني

ښه تم شي تم شي تم شي نه رادرومي تر هغې
چې زړه مې له ښې تندې په جل ووهي راکیني

دا څه مهربان خلك دي ما ووژني خو بېرته
په سر د جنازې مې بغل ووهي راکیني

له خوبه خوارہ خوبه لېوني غوندې جلان
په ذهن یې چې ګوتې غزل ووهي راکیني

۳ غويي ۱۳۹۳
کابل – شاه شهید

مينه مې وګټله ننګ باندې مې تېره کېښوه
د نفرتونو د اور رنګ باندې مې تېره کېښوه

ستا د قدم په خاورو خوب د خواږه کيف په سبب
په ګل بستر په ګل پالنګ باندې مې تېره کېښوه

چې شبنمي سترګو يې بله کړه ډيوه د ګيلو
د احساساتو په غورځنګ باندې مې تېره کېښوه

د سر دښمن مې د ټوپك په ځای په ګل وويشته
سوله مې خوښه کړه په جنګ باندې مې تېره کېښوه

پرون ترې وپوښتل يو چا هغه جلان دې ښه دی؟
وويل چوپ په هغه دنګ باندې مې تېره کېښوه

سرونه جوړ لرو خو سر کې مو فکرونه جوړ کړه
خدايه! په دې ښکلو ډبرو کې لعلونه جوړ کړه

وخته نامرده! چې دې بيل کړو اوس خو دومره وکړه
چې سره نه ګورو ترمنځ مو ديوالونه جوړ کړه

تاند احساسات مې رانه غواړي لېونې خوبونه
راغاړې وځه کنه زر شه قيامتونه جوړ کړه

خدايه! کوږدنه مې په تمه د واده زړېږي
سږ کال باران وکړه سږ کال خو مې فصلونه جوړ کړه

خلک مې پوښتي چې جلانه! شاعري څنګه شي؟
زه ورته وايم له سکروټو نه ګلونه جوړ کړه

مړاوې شوه څپې پرې د خوبونو را روانې دي
سترګو کې يې لارې د ګلونو را روانې دي

بيا زړه کوټه چت يې سوری سوری او شړك باران
بيا نرۍ اوبه په ديوالونو را روانې دي

دا يې په خبرو کې نازونه رابهېږي که
دښتې د ګلزيږو تصويرونو را راونې دي

دادی شپې جامې د خواهشاتو درته واغوستې
ښکلې زلزلې د قيامتونو را راونې دي

پيغلې د جلان د غزلونو را راونې دي
ته وا اينې په قدمونو را راونې دي

۱۷ غبرګولي ۱۳۹۳
کابل

واه واه قربان دې شم له سپينو ګلو ډکه ياره
ما په اسمان غوښتې خو خدای راکړې په ځمکه ياره

چې تا احساس کړم او پرې ستا د وجود دمه وکړم
له خپله ځانه تاوومه غېږه ځکه ياره

راشه چې سترګې مو د هيلو غوړيدلي درته
د پسرلي تر شبنمي سيلۍ نازکه ياره

په ځان دې پام کوه ږلۍ نظر دې ونه وهي
د خپلو څڼو خوی ته تلليه ماښامکه ياره

پرون په غرو کې چا ويل جلان ته داسې وايه
کله نه کله خو راځه په ښار کې ورکه ياره

لږ مې درك كړه كنه تاته ضرورت دی
تش كالبوت يمه او ساه ته ضرورت دی

چې كنګل خواهشات ټول پكې اوبه كړم
يوې ښې ګرمې ګناه ته ضرورت دی

د تيارو د غبارونو سيلاب راغی
هله خندا چې بريښنا ته ضرورت دی

چې اوده وي ورشې پټه يې خوله واخلې
كله كله داسې غلا ته ضرورت دی

مور مې نشته دې جلانه خو پر ځای يې
د جانان د خولې دعا ته ضرورت دی

۱۸ ليندۍ ۱۳۹۳
كابل

ناز چې تصوير شي د نظر په اينه ښويږي
ورسره جوخته مې د عقل زمانه ښوييږي

خوږه کيسه چې په مسکا کې غځوي نو ته وا
د ګل له شونډو نه د وږم ترانه ښوييږي

زړه د لذت به ورته خامخا چاوديږي کنه
چې ګناهونو کې خندا نه ميخانه ښوييږي

ښکلا چې موم شي هوس نه تم کيږي ځار دې شمه
په غوړو څڼو طبعي ده چې شانه ښوييږي

زړه د جلان هم تيږه نه ده ورنرميږي به خود
کوربه څه ګرم دی؟ چې پخپله ميلمانه ښوييږي

۱ وري ۱۳۹۲
سبا تلويزيون – کابل

وبه لوېږم شپه ده غړ کوه قربانه چرته يې؟
اور مې په ورغوي کې نېولی جانه چرته يې؟

وسوې درېسې د زيړو ګلو زرغونې درې
ای د بخملين حسن پسته بارانه! چرته يې؟

ناست درته يو څوك د اوښكو اوښكو انتظار پر سر
و د خپل غرور په لارو ورك انسانه چرته يې؟

خود به دړې وړې پروت په هر قدم په هره لار
بس خو زندګۍ ده ورانه بې له تانه! چرته يې؟

يوه سترګه په شال کې پټه بله غړوي وايي
راغلم كنه مړ شې و ساده جلانه چرته يې؟

۱۹ مرغومی ۱۳۹۱
کابل

تبر ته د جبر ياغي ذات ښه دی
سر مې چاته خم ښه نه دی مات ښه دی

جوړ کړي له نظره د ښکلا چینه
لوست د کایناتو ګرانه! زیات ښه دی

ځار دې ترې اوه واړه جنته شي
ستا د شونډو خوند اب حیات ښه دی

ډېره ځان ته کېږمه چې ورك به شو
کله کله یو نیم ملاقات ښه دی

وي که نه وي څه دنیا پرې جوړه ده؟
مات جلان نیمګړی ښه میرات ښه دی

۱۸ مرغومی ۱۳۹۱
وزیر کلا - کابل

 څه به کيږي د ادا موسم ته مخ شوم؟
د مرګونو د وبا موسم ته مخ شوم

د منګور غوندې پوستکی رانه ووت
د دردونو د جوزا موسم ته مخ شوم

د سيلۍ غوندې په کاڼو سينه مږم
د افسوس د واويلا موسم ته مخ شوم

لکه باد مې خاص ګردونه خوله کې يوړل
که هر څومره د ښکلا موسم ته مخ شوم

پرهرونه په لمبو مينځم جلانه!
اوس د تورو د بريښنا موسم ته مخ شوم

۷ تله ۱۳۹۱
وزير قلعه - کابل

ژوند مې سله ځله قربان له هغه چانه
راته ګران چې دی جلانه! له جلانه

چې په ورین نظر راوګوري نو ته وا
د الماسو زمانه ده را روانه

د هیندارو په دیوال کربښې د ګلو؟
که تنکي وښکي یې سره دي له خندا نه؟

یو عادت د ماشومتوب پکې اوس هم شته
چې ځان ښه لوند نکړي نه ځي له بارانه

دغه غږ یې په خدای زړه زما وباسي
راشه چرته یې جلانه! ساده جانه؟

۷ تله ۱۳۹۱
وزیر قلعه - کابل

پرېږده چې مې تنده د زړه تا پسې روانه وي
مینه به مې شرنګ کوي نغمو کې به ودانه وي

بت غونډې ولاړ د دې پوښتنې په دوه لاره کې
تېښته له خوارې یار نه اسانه وي که ګرانه وي؟

دا دور او دومره معصوم پاك ښکلی او خوږ انسان
شاید پرښته پیدا له ذاته د انسانه وي

لاړه بېرته راغله خو لمده په اوښکو هاغسې
ته وا شپه اوښتې له بارانه تر بارانه وي

ښه ده د جلان شاعري ډېره هغه چا لره
څوك چې ژوند کې مات وي بې جانانه بې درمانه وي

۵ تله ۱۳۹۱
وزیر قلعه – کابل

پرون چې په نازونو کې هغه روانه وه
ما وې که په ګلپاڼو کې لمبه روانه وه

په سپین لباس کې سپینه ځلیده روانه وه
ته وا رڼو اوبو کې اینه روانه وه

هر څو که مې د سترګي زړه غږونه پسې وکړل
خو نه یې اوریدل نه اودریده روانه وه

شرنګا یې له قدم قدم درګرده پاشیده
دنګ غاړې بې پروا لکه غرځه روانه وه

سحر یې راته وې چې په ژړا ژړا دې مړه کړم
په خوب کې دې جلانه! جنازه روانه وه

**۵** تله ۱۳۹۱
وزیر قلعه – کابل

چې ستا پر شونډو تماشه مې د غزل کومه
د ګلابونو دریابونو کې مزل کومه

شوخي د مینې معیار مینه کې مزه کوینه
خوابدي کېږمه چې کله ځورول کومه

جوهرنظره! تا کړو جوړ رانه مرغه د جوهر
اوس به درو د اینو کې الوتل کومه

نور ښه سړی یم خو چې ښکلي مې پنجو ته راشي
بس بې اختیاره شم بې واره ښکلول کومه

ته چې په مینه راته ووایې جلانه ګله!
هغه مهال لکه اوبو کې غمی ځل کومه

۱۴وږي ۱۳۹۱
قلعه وزیر - کابل

د زرغونې عاطفې لمر يې رانه ووژلو
درد دومره ډېر شو چې هنر يې رانه ووژلو

توبه توبه د کينې اور شو زورور دومره چې
دريابي عشق زړه د دلبر يې رانه ووژلو

جانان پخپله د خپل ښکلي محبت قاتل شو
سحر راپاڅيده سحر يې رانه ووژلو

اوس به د شپو خاموشي څوك په ګل ډېو رنګوي؟
شاعر احساس د ښکلا سر يې رانه ووژلو

ډېر زر به واورئ چې ګلاب ګلاب ياران به وايي
جلان يې مړ کړو خدايه! غر يې رانه ووژلو

۱۳ وری ۱۳۹۱
قلعه وزير - کابل

د مینې سر خورم خدایه! بیا په ماتیدو روان یم
لکه د درد کشتۍ په سیند کې د چاړو روان یم

زمانې دومره کړم مجبور چې ورکتل مې هم نه
په خپله خوښه اوس په لاره د هغو روان یم

زړه مې په لاس نیولی دی زړه یې په لاس نیولی
سلګۍ وهي روانه های په ژړیدو روان یم

د مرګ ښکاري چرته یې؟ زر مې په سینه وولهٔ
د بې وزر مرغه په څېر دښت کې په پښو روان یم

جلان به څنګه شم د ژوند د ښکلاګانو شاعر؟
چې د وژلیو ارمانو په قبرو روان یم

۱۳چنګاښ ۱۳۹۱
کابل

بیا پورې ورې زړه په زړه اوري خنجر د لمبو
بیا د یوې مینې مینې ژوند په سر دی شر د لمبو

بیا د سپرغیو نظارې کړې ورېږې جوړېږي
بیا راخورېږي په نظر نظر منظر د لمبو

بیا په فضا کې څه د سویو وږمو بوی بهیږي
خدایه! بیا چا په ګلدرو کې وکړو کر د لمبو؟

بیا به مې لیپې د غزلو وي چینې د لمبو
بیا مې راخلاص شو د احساس درو ته ور د لمبو

کنګل وهلو زمانو راشئ تودې شئ ورته
بیا له جلان نه احساساتو جوړ کړو غر د لمبو

حالات ماتېږي خو باور باندې قايمه اوسه
پخپله مينه خپل دلبر باندې قايمه اوسه

د شك بلا ناڅاپه ننوزي باور ووژني
ګرانې ډېر پام د زړه په ور باندې قايمه اوسه

منم غريب دی مګر مرد دی په وعده کې غر دی
په دغه مرد په وعده غر باندې قايمه اوسه

کچه غبار درنه ګردمنه نکړي ښکلې حيا
د دې هينداري په جوهر باندې قايمه اوسه

جلان د مينې جادوګر شاعر په نوم يادوې
جانو! همدغه جادوګر باندې قايمه اوسه

د ستا په شان نه یم منم د ګل په رنګ هم نه یم
خو دا به هم مني اشنا چې ډېر بدرنګ هم نه یم

لکه پښتون ولاړ پر برید د ناقراره ژوند یم
سوله مې هم زړه نه مني راضي په جنګ هم نه یم

یو څوك خو شته چې مې په سترګي وخت کې مخ وراوړي
شکر د اوسپنې په شان خاورو کې زنګ هم نه یم

چې ته مې زړه کې ژوندی ساتې لکه بله ډیوه
زه به دې هیر کړم؟ نه قربان دومره بې ننګ هم نه یم

د خلکو مینه ده دنګ خیال مې بولي دنګ مې بولي
ګنې جلانه زه خو خاورې یمه دنګ هم نه یم

ته د مینې سمندر وې لکه څاڅکی څنګه وور شوې؟
ناڅاپي په نه خبره زړه دې ټول کړو رانه مور شوې

تا خو سره جهنمونه د غوښتنو لرل یاره!
لکه یخ وهلې ځمکه په نمجنه سیلۍ سور شوې

نه نه هغه دې دروغ شول چې ویل دې ته مې زړه یې
نه نه لاړې ته خو لاړې د غرور د بنګلې پور شوې

زه دې پرېښوم پرهرژلی لکه پاتې زخمي جنګ کې
ته د شنه هوس له پاڼو لکه شنه هینداره جوړ شوې

درته وې مې ځان دې ساته خو تا نه منل جلانه!
ګوره دې شل کلنۍ کې د اتیاوو کالو زوړ شوې

منم خودخوا یو پخپل لور د ښکلا رایه غواړو
خو د ښځو په سره جګړه کې د زړو بایه غواړو

که درد وي اور وي که خوښي خو پکې غرق غرق چې یو
مونږ دې په هر حال کې اشنا مینه بې پایه غواړو

زړه چې مې ډېر شي ناقرار ورته ستا ظلم یاد کړم
دغه ماشوم ته خوب له ډاره او له ترایه غواړو

خدای خو دې ژر په دې وطن کې داسې وخت راولي
چې مزدور نه وي مونږ مزدور له بله ځایه غواړو

چې یار انکار وي د ناز زه سوال او زاری جلانه!
داسې شیبې خو همیشه مونږه له خدایه غواړو

دا عمر څه خوږ؟ چې د ویر او غم په کور تېرېږي
چې په تا درد تېرېږي ما باندې هم اور تېرېږي

د بې شعوره بې احساسه پښتنو په وجود
د رواج خدای مدام د ظلم په اس سپور تېرېږي

د تلو په وخت کې مو ناڅاپه داسې چیغې وکړې
لکه په منځ د ماشومانو کې منګور تېرېږي

ظالم یې نه اوري ګنې مظلوم چې اه وکاندي
په کایناتو کې یو سور طوفان د شور تېرېږي

سادګان وایي چې جلانه! ښه مزې دې وکړې
خو خبر نه دي چې مې ژوند د درد په زور تېرېږي

وجود دې لکه غر خوی هم د غر ځان کې پیدا کړه
پښتونه! سر لرې د فکر سر ځان کې پیدا کړه

که درد وي که ژړا وي که خندا وي ژوند تېرېږي
ښه ژوند وکړه د ښه ژوند ښه هنر ځان کې پیدا کړه

وژل کرکه او بد څه وي؟ که غواړې چې انسان شې
خویونه د اوچت اخلاق ژور ځان کې پیدا کړه

په هر کار کې خو نر یې خو دا ټول چې دې راټول کړي
د خدای په خاطر دغسې یو نر ځان کې پیدا کړه

لوی خلك له مشکل سره ډغره وهي خاندي
جلانه! ته هم څه داسې جوهر ځان کې پیدا کړه

زړه وجود اروا پکې بې واره وي
ژوند بيمار وي ژوند چې بې له ياره وي

هغه ميوه ډېره مزيداره وي
ډېره چې خوږوولي نه د غداره وي

زه درباندې ګران يم؟ ته خو ګرانه يې
خلك وايي زړه په زړه هينداره وي

ډېر غمونه ځکه ګالي ستر خلك
لوی ښار ته له هرې خوا نه لاره وي

شرنګ به يې غزلې ځنګه نه کوي؟
مينه د جلان چې سندره ماره وي

کابل

 څومره ظالم دی خدایه! څومره مهربان دی هغه
اف سره لمبه ده اخ د ګل د موم په شان دی هغه

قدم قدم کې ترې ماتیږي منظرې د ښکلا
لکه شوخ باد پر سر د ګلو را روان دی هغه

د نازدانه نازك مزاج ژباړه یې دومره کوم
په نه خبره جوړ په نه خبره وران دی هغه

اوس یې د ځوان شاعر شاعرۍ زمانې غلامې
اوس یې د شعر د شرنګیدلي کلي خان دی هغه

مونږ د ګرانښت تر هغه حده رسیدلي یو چې
هغه جلان دی جلان او جلان جلان دی هغه

۱۲ لیندۍ ۱۳۹۰
کابل

نه زړه لرم نه درد لرم نه عاطفه لرمه
نوره د مينې د وژلو اراده لرمه

چې يو کيدی نشو نو ښه به وي چې ورك شو سره
مه مې لره کنه نه وايم چې هغه لرمه

چې درياديږم نو خپل کبر ته دې پورته خېژه
چې رایاد پرېږې بيوسي شته بهانه لرمه

نور د ګلاب نظر وږمې هم په ما مه لوروه
مخ اړوه په ذولجلال که حوصله لرمه

زړونو ته درد رسوي څه به پرې وياړم جلانه!
د شاعرۍ په نوم د وينو زمانه لرمه

مینه هنر ښه وي او یار ښه وي
ژوند کې د زړونو کاروبار ښه وي

کینه کنه چې د زړه درد دې سپك شي
شاعر سړي سره بنډار ښه وي

جانانه! ماته جانان ډېر ډېر وایه
خوږو خبرو کې تکرار ښه وي

یو نیم انسان له سړي لرې ښه وي
یو نیم انسان په سړي بار ښه وي

چې مخ دروړوي بیا مخ واړوي
جلانه ګله! داسې وار ښه وي

څه د یخې تبې درد یمه نیولی
لکه غر د واورې ګرد یمه نیولی

عقل هوش زړه احساسات يې راتړلي
ښکلامردو کې نامرد یمه نیولی

زما نوم دې موتې وړو کې وغړېلو
د همغې ورځې ورد یمه نیولی

یو بانه یې تر تتر راغځیدلی
د ګلابې د کور فرد یمه نیولی

زرګرخیال مې جذبوي جلانه ځان ته
د پنجشیر درې لاجورد یمه نیولی

۲۳ سرطان ۱۳۹۸
کابل

په خپلو وينو مې ور نوی کړو مضمون ښکلا ته
ما د سبا او نن ښکلا ځار کړه پرون ښکلا ته

ستا په خاطر له کايناتو نه وتلی ومه
تا چې مخ واړوه زه بېرته شوم راستون ښکلا ته

ښکلا پرستو ښکلو خلکو ملاتړ مې وکړئ
که زه پاچا شم جوړومه پوهنتون ښکلا ته

هر څوك ښکلا ښکلا ښکلا وايي مالومه به شي
راځی چې وکړو د سکروټو په سر يون ښکلا ته

په ګل رنګو کې مې چې مينه پو کړه وجلانه!
اينو وکړو له يوې مخې پاڅون ښکلا ته

هسې نه وکړي د زړو پر څمکو اور ګلونه
په څنځيري باڼو کې بند ښه دي دا تور ګلونه

دا يې پر مخ باندې له شرمه سره لاسونه ايښي؟
او که په سپينه اينه دي ور نسکور ګلونه

مسکا دې شونډې يوسي دومره عاطفي حالت ته
لکه ماشوم ته ونيسي په لاس کې مور ګلونه

باد يې راټوله لوپټه کړې د څڼو پر سر؟
او که پر سر د مينارې ايښي چا شکور ګلونه؟

جلانه! خدای به دې هيڅ نه خرابوي غم مه کوه
درپسې شا ته په دعا ولاړ سر تور ګلونه

کابل

ته مې انځور کړې په تندي د ګلاب
ځکه لمبي کوي سرخي د ګلاب

هغه وخت ډېره رایاد پړې ګرانې!
سیلۍ چې شونډې ښکلوي د ګلاب

ستا له خوږو سترګو چاپېره بانه
لکه په لمر سوي ازغي د ګلاب

ای د ښکلا فن کاره! وغږوه
یوه څه نازکه موسیقي د ګلاب

جلانه! ستا شاعري دغسې ده
لکه په شپه کې خوشبويي د ګلاب

کابل

زړه مې تش له مینې اشنا نلري
ښه دی دا جومات چې ملا نلري

مینه به وي خو کمزورې مینه وي
بلې چې سکروټې تر شا نلري

اوس مې غزل چنګ په زړونو نه وهي
دا غمی زرینه ځلا نلري

بویه د ښار ښکلي کاغذي ګلان
رنګ لري خو بوی د وفا نلري

کوچ کوچ مخ يې خولې ته درنږدې کړلو
خوره يې وچلانه! ګناه نلري

۱۴ غبرګولی ۱۳۸۹
کابل

زه ګلابونه ورکومه خو دی اور راکوي
د لالي دغه بې احساسه خوی ډېر زور راکوي

په پرهر نړدي د ټکور د خاموشۍ لاسونه
هر ځل چې ورشمه په وير لړلی شور راکوي

لمرمخیه! ستا د ښایست ورځې نه خو شپه هم ښه ده
خوب په شوګير مینځي یو څه خواږه خو نور راکوي

ما خو په ټول عمر میړې باندې پښه نه ده ایښې
خو دغه خلك ولې ټك لكه منګور راکوي؟

اوس خو یوه هم نه مني جلانه خو وخت به وي
همدا انسان به خپل ډبره زړه کې کور راکوي

۲۱ چنګاښ ۱۳۹۰
ژوندون راډیو تلویزیون – کابل

چې مې زړه ستا د ښایست منګول کې ایښی
بویه پل مې د مرګي په پل کې ایښی

د اوربدو څڅو سرونه راته دود کړه
سور ګلاب مې د پټکي په ول کې ایښی

د زړګي د تقاضا په لاره راغلم
سر مې ځکه د قمار درشل کې ایښی

زه په ګوټ ګوټ په تیارو کې پسې ستړی
یار د مخ څراغ په کوم محفل کې ایښی؟

جلان ځکه یاد د ښه شاعر په نوم شوم
ستا تصویر مې په مهین غزل کې ایښی

۲۷ تله ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

چې در مات شوم ستا پر خوا ګلابه یاره
واوښتمه په بلا ګلابه یاره

د ګلونو ښاییستونو قتل عام دی
رالوتې ده وبا ګلابه یاره

سترګې مه اړوه ته مو دمکده یې
د ایرو ځای وي ګنګا ګلابه یاره

هسې نه تاوان یې تاته ورسېږي
خونخوره دې شوه ادا ګلابه یاره

ستا جلان به لکه ناوې درنه یوسي
پسې راغله د غم ورا ګلابه یاره

۶ لړم ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

فیصله دا چې اختیار نلرې اختیار نلرم
په کار مې کار مه لره بس په کار دې کار نلرم

چې څوك مې نوم اخلي ځان تېر راوله غوږ کښوه
چې څوك دې نوم اخلي نو وایم به چې یار نلرم

ته ولې خوږ ژوند په دردو لړې زما خو هسې
د پرهارونو په سر لار ده بله لار نلرم

په دې ویرېږم چې تور داغ دې په حیا لګېږي
ګنې په تګ ګرانې د ستا تر کوره ډار نلرم

تا چې در ټول کړو زړه له هغې ورځې وروسته جلان
د تکراري شاعر کتاب شومه بازار نلرم

**۲۵ تله ۱۳۸۹**
نوا راډیو - کابل

زه چې کله کله د خپل زړه په غاړه کېنمه
اه وکړمه وايم خدايه لاړه لاړه کېنمه

ستا نامې ته ورته کليمه چې له چا واورمه
هاغه وخت مې وچه شي په خوله کې لياړه کېنمه

غر د زمانې د ستم ورمه سترۍ نه وم خو
اوښکو ته کوم چې ستاد ظلم ژباړه کېنمه

وی وی ياره ! څه به د ماضي له خوږو وايم بس
ياد چې مې شي غاړه غړۍ مونږه دواړه کېنمه

بر چې په کوچنۍ غوښتنه هم نشم جلانه نو
وژاړم ښه د مايوسۍ په شاړه کېنمه

۲۲ تله ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

یو خوا مرګ بل خوا ته یار دی امتحان دی
وړاندې هر ګام په انکار دی امتحان دی

زمانې راشه وړیا مې اوښکې یوسه
نن مې ښه د ژړا وار دی امتحان دی

تر پښو لاندې مې په ګام ګام ځمکه ښويږي
په اوږو مې اسمان بار دی امتحان دی

چارچاپېر د وينو غرونه را روان دي
غړمبهار دی ډار دی ډار دی امتحان دی

دنګ جلان دنګو غمو ته مخامخ دی
ورخطا دی بې اختيار دی امتحان دی

۱۳ تله ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

چې ناڅاپي درسره نن ټنډه په ټنډه شومه
ډېرې خوښۍ نه په جامو کې غونډه منډه شومه

ما وې له ما مخکې دې شال له مخه وا نه ړوي
تر تا راتلم لاړ کې له باد سره په منډه شومه

ستا د وعدو د ګل او اور په انتظار کاله کې
څو ځله ناوې شوم څو ځله بيرته کونډه شومه

اوس مې وجود کې د ښکلا زر زمانې پټې دي
اوس په شال پيڅکه د لمدو لونګو ګنډه يمه

منې جلانه! ترک ترک ماته شوه له ډېره زوره
چې په هوس رڼې هينداري ته بربنډه شومه

۱۳ وږی ۱۳۸۹
کابل

وجانه! خوږېږي مې زړه زيات د شپې
راشه تنها نه تيرېږي ساعت د شپې

دم په دم سکوت راته بو بو کوي
هسې نه ګډوډ مې شي خيالات د شپې

کوم مابښام چې زړه مې په تا خوږ نشي
تښتي رانه واړه کاينات د شپې

ګرم نه يم که ناڅاپه دروښويدم
ګوري نابلده کس جومات د شپې

ډېر ځان په جلان پورې نږدې نکړې
وځې له ولکې نه احساسات د شپې

۲۰ چنګاښ ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

منې چې هغه وخت يې بې اختياره يادوم
چې ډکه سحرغېږ شي د مارغانو له اوازه

ځولۍ د ترږې ذوق مې پسې ځکه ګرځوم
ښکلا يې رابهېږي د خبرو له اندازه

شور وختهٔ! لږ مې پرېږده چې څه ساه د ارام واخلم
تر يو سترګې انجام راغلم له يو سترګې اغازه

که زړه دې چيرې وي چې مشهوره شې هنر کې
راځه ما درته پرېښوده د زړه دروازه وازه

غزل ته د کوکيو له اور رنګ ورکړه جلانه
ها دنګه غنمرنګه ړنګه بنګه شوه له نازه

۲۰ کب ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

غر په سر ورم خو ستا د يوې اوښکې زغم نلرمه
ګلابه ياره! توان د دې رنه غم نلرمه

زړه مې بديږي چې غبار د وخت پرې ولګيږي
ګنې نور هيڅ کار د هيندارو په چم نلرمه

ته د ښکلا دګلدرو په اوبو ښه غوړيږه
زه خو د سوي غره سر کاڼی يم زيم نلرمه

ستا زوروري مينې ځان ته دومره رام کړمه چې
اوس د زړه لار کې د بل ښکلي قدم نلرمه

غريبي ورکه شه جلان دومره بې څوکه شومه
په شته دنيا کې يو عرب او عجم نلرمه

غصه يې وشيندي سرخي لا په خوارو وجود کې
اور ګلابونه اوبه ټول راټول شي يوه وجود کې

هغه چې غاړه کې راوچوي پاسته لاسونه
د سرور ښکلي کاينات مې شي راشنه وجود کې

د بهانو په اينه يې خطا داسې ښکاري
لکه کږه لاره چې تلې وي د غره وجود کې

د تږي ذوق شونډې مې ځکه ورېسې چيچمه
اوبه يې ښکاري په نازک اوبه اوبه وجود کې

توبه تول نشته جلان هم د شاعرۍ دعوا کړي
دی هم اوس توره سره کوي د ښامار مړه وجود کې

ښې زرکینې سترګې ګل غمبوري سپینه خوله لري
دا لکه ماښام د روژې څومره ډېر خواږه لري

یار چې وعده نه ساتي حسین دی ګرم یې نه ګڼم
ګوره اینه تصویر ښیي خو ژبه نه نلري

راکړه غاړه راکړه یاره! مینه کې څه شرم دی؟
ښې بدې کې تله راتله یو بل ته پښتانه لري

پام دې وي نازکه! چې نازك ښایست دې یونسي
دغه د نظر سیمې د سترګو په نوم غله لري

لپې یې د زړه ډکې سندرو نه که وړې یې ستا
نور نو ګلې! ستا جلان نه سپین لري نه سره لري

۱۹ سلواغه ۱۳۸۸
نوا راډیو - کابل

نو خود به زندګي په تك سره غم درته بدلېږي
په شنه کاڼي چې موم زړه د صنم درته بدلېږي

نو ته چې د وجود په تخته رقص کوې د ناز
زما به هم حالات رقم رقم درته بدلېږي

ښه ډېره مې یادېږې خو چوپ ځکه یم خوږې!
که څه وایمه ژوند په جهنم درته بدلېږي

زه مات یم مګر تاته مې غوښتنه ده له خدایه!
چې هر درد دې د عطرو په شبنم درته بدلېږي

اور شور ومه جلانه خو چې مخې ته مې راشې
اوبه اوبه شم قهرمې په زغم درته بدلېږي

۴ کب ۱۳۹۷

کابل

باراني مو چې بدریغه احساسات دي
بیا خوارېږه په کیف د زړونو کاینات دی

ارادې مې شکسته د تاند وجود دي
رانسکورې میناري د دې جومات دي

پيغلتوب يې د خواهش تبې نېولي؟
که ګلونه يې په مړه نظر کې مات دي

د عربو جهالت يې رانه هير کړ
په افغان وطن کې دغسې حالات دي

سوزوي مې هم اورم يې هم جلانه!
ستا سندرې هم سکروټې دي هم شات دي

۱۰ کب ۱۳۹۷
کابل

غوږ غوږ یمه کوه راته کیسې خوږې خوږې
په ژوند کې راځي کمې داسې شپې خوږې خوږې

د کیف جانانه اوږ دانه دانه شي ورته زړه کې
چې واړوي راوړوي لیمې خوږې خوږې

مریږم یې نه ځکه په تودو تودو کوکیو
اوبه د ګلدرو خو وي خوږې خوږې خوږې

دا چا په شرابي خندا مینځلی ګلستان؟
راځي له ګل کوځو نه نن وږمې خوږې خوږې

غزل د ځواني مرګ جلان مې ځکه ډېر خوښېږي
لري په پس منظر کې منظرې خوږې خوږې

۱۱ لړم ۱۳۸۸
نوا راډیو - کابل

واه د مخ په پیڅو یې څه ښکلی شر راوخاته
ته وا د ګلاب په اینو کې لمر راوخاته

ما چې د عشق لاس ستا د ښکلا چینه کې ښکته کړ
ګوتو کې مې لکه روڼ غمی هنر راوخاته

زر ځله دې ځارې ترې سل مخې حسن دارې وي
دا ساده انسان خو لوی د مینې غر راوخاته

خوږ ماشوم د ناز یې د نظر په لاندینۍ زینه
ورو ورو په خواږه انداز د زړه په ور راوخاته

رنګ که ورکوي غزل ته و جلانه! وخت یې دی
هله شین ګیډۍ کمیس د بام په سر راوخاته

وا دا غوټۍ سترګې د بارخو په سر
بلې ډيوې ګرځي د اوبو په سر

څښو کې يې ځای ځای داسې سپين ښکاري
ته وا پرتې واورې وي د غرو په سر

ستا د ګلابي شونډو دعا چې وي
نوی شال به خور کړم د پښتو په سر

خير دی دا ژړن زړه مې لږ غلی کړه
خلك تېروي لاس د ورړو په سر

دومره ليونتوب جلانه څنګه وي؟
مخ دې رانه يوړو د غاښو په سر

۲ مرغومي۱۳۸۷
نوا راډيو – کابل

تاو د زړه مې بس په اوښکو ياره وځي
د کاريز اوبه په تنګه لاره وځي

صبر صبر ترڅو صبر نو مې ښکل کړه
مار چې تږی شي ضرور له غاره وځي

بل دې کړو تاو به يې ورسي تر تا هم
دغه اور به له دې کور تر ښاره وځي

ته چې نه يې راته وايه څه به خوښ شم؟
غږ جانانه! له شليدلي تاره وځي؟

پخوانی شرنګ يې د مستې ځوانۍ نشته
ستا جلان هم اوس ورو ورو له کاره وځي

۱٦ چنګاښ ۱۳۸۸
نوا راډيو - کابل

تږې د ذوق تږې یمه مرمه چرته یې؟
چرته یې د عطرو د باران موسمه چرته یې؟

وژني خیالدره رانه پیکه ارام پیکه غبار
راشه د سکروټو سترګو ګرم غمه چرته یې؟

سپینه د موم غوښه له خواهشه درته ډکه ده
اوره پرې د خوږ زور اورني شبنمه چرته یې؟

دربه وړي د اورګلونه دا منظر د تاب نه دی
دا دی په اوبو کې مې خندا کرمه چرته یې؟

مړ شي مړ شي و په زړه کافر جلانه مړه دې کړم
راشه ناروا روا دې ټول منمه چرته یې؟

۱۸ غویي ۱۳۹۷
کابل

چرته يې راشه چې له بوده شوم نابود درپسې
پوهېږم نه مګر خوږېږي مې وجود درپسې

د پرهارونو د رنګونو ګډوله منظر کې
د درد په شونډو يم ميده ميده سرود درپسې

هو وړ دې نه شوم خو له دې پورته مې وس هم نه و
سل مخې حسن ته دې سل ډوله شوم دود درپسې

د تاوانونوغر مې شاه ته وتاړه لالیه!
دا دی را واوښتم له ګټو او له سود درپسې

هله جلانه نو د مينې سرمايه وژغوره
يو څوك له سترګو بهوي سپين زمرود درپسې

۳ غويي ۱۳۹۷
کابل

ډېرې خبرې دي چې ته يې پټوې هميشه
دا وړمې ولې په رسۍ زندۍ کوې هميشه؟

خندا دې نشته په زړا دې ځان او زه وخوړم
د ژوند طلا مو په ناچلو بدلوې هميشه

پر بهانو بار له دروغو نه دې ځار لالیه!
بس خو ګلونه دي هوا کې يې کرې هميشه

خلك قبرو ته مړي وړي خو ته قبرونه سترګې
درګرده زړونو پسې ګردې تاووې هميشه

چې درنږدې شم ښکلوې مې نه توبې وباسې
جلانه اور نه مړ کوې اور بلوې هميشه

۲۵ وری ۱۳۹۷
کابل

نه دې څه يم نه مې څه يې نه مې څه يې ليونۍ
نو بيا مې ولې په خوبونو کې راځې ليونۍ؟

چې اننګو نه يې ګلونه وړي د شاتو مچۍ
نن يې خوره سبا واده دی د هغې ليونۍ

پيغلې خو پيغلې دي خو بيا هم دومره مستې نه دي
کلی خو تا په سر اخيستی دی زړې ليونۍ

له کومې خوا نه در قربان شم راته وايه کنه
لکه ګلاب، لکه اوبه لکه لمبې ليونۍ

زه خو جلان يم ساده جان يم زړه مې زر بايلمه
ماته به مړې مړې سترګې نه را اړوې ليونۍ

۱۰ مرغومي ۱۳۹٦
کابل

زه او ته دواړه لکه شات او شيدې
غاړه په غاړه لکه شات او شيدي

د زړونو خولې ورته اوبه اوبه دي
دا څوك ولاړه لکه شات او شيدې؟

په لذتونو کې تر ټولو خوږه
د پيغلو لياړه لکه شات او شيدې

لکه شيبه مې له ژوند وبهيده
لاړه ها لاړه لکه شات او شيدې

ستا د هنر په اور پخې غزلې
جلانه واړه لکه شات او شيدې

۱۴ زمری ۱۳۹٦
کابل

شونډې او لاسونه خورومه په خوبونو کې
خپلې ارادې تمثیلومه په خوبونو کې

لار مې د ښکلا رب ته له دې لارې پیدا کړله
سپین ګبین جبین یې ښکلومه په خوبونو کې

شته څوك چې تعبیر یې راته وښیي چې سپین مرغان؟
ولې همیشه ازادومه په خوبونو کې؟

څه رانه پټیږي ما دې درست وجود لیدلی دی
درسته شپه دې لاس کې ګرځومه په خوبونو کې

څه به پر ادب زیات کړي شعرونه د جلان خو بس
غرونو کې کورونه جوړومه په خوبونو کې

۴ زمری ۱۳۹۶
کابل

هغه به خپله لار لري او زه به خپله لاره
ګله! په ما باندې په زور مه منه بله لاره

پرېږده چې اوس يې ګل وجود په سره تبۍ پولۍ شي
همداسې ښه دی چې اول يې نه کوله لاره

هغه مهال به مې خاورين وجود رڼا کوله
چې ستا په سترګو کې به خدای وځلوله لاره

اوس يې د هغې شرنګيدلې ځوانۍ زور نشته چې
په شرنګولو قدمو يې شرنګوله لاره

جلانه! زه به چې ترمنځ د جنکيو راغلم
ميرې ميرې به شوم له پښو مې تښتيدله لاره

۱۴ چنګاښ ۱۳۹٦
کابل

همداسې ښه يم ښه سم غرق خانه خراب لاندې
ساه اخلم ستا د نظرونو د ګلاب لاندې

څه مې پوښتې چې پاس دې ستوری لاندې سيوری څه شو؟
غم داسې ټيټ کړم لکه شګه د درياب لاندې

مخـامخ لاړه شه د دوشاخې ونې ډډ وسپړه
هلته مې ايښې يوه لجرمه د کتاب لاندې

دغـې ساده تورې بتکې ته عادي مه ګوره
دلته يو سپين اورغر روان دی د حجاب لاندې

خود به مې سر باندې جلانه! هر سپور پښې کلکې ږدي
شـوم هغه اوسپنه چې راغلم تر رکاب لاندې

۵ چنګاښ ۱۳۹۶
کابل

رنګ چې د ارزو يې په تندي کې رابرسېره شي
ته وا نم د واورې په سپرلي کې رابرسېره شي

شل وجود مې ستا په راتلو ځکه روغ شي پاڅېږي
زور د احساساتو په غورځي کې رابرسېره شي

خود به يې سرخي د مخ زياتېږي چې ور وګورم
څرېکې ته د لمر رڼا غمي کې رابرسېره شي

زړونه ورته وازې وازې خولې له حيرت پاتې شي
بس چې غونچې څنې په ټيکري کې رابرسېره شي

بې له ميني بې له يار غزل د جلان داسې وي
لکه زړښت نښې په زلمي کې رابرسېره شي

۹ لړم ۱۳۸۹
نوا راډيو – کابل

په خوار ولس مو راوله خدایه! له بره خلك
د پرښتو غونډې سپیڅلي بې ضرره خلك

ورته سلام چې په خاطرد انسانیت راپاڅي
که له جومات یا کلیسا یا له مندره خلك

نه درنه ګټه اخلي نه درباندې ګټه پیرزو
مونږه د دغسې ټولنې بې ثمره خلك

تا چې له ځان سره ساتم نو حوصله به کوم
مخامخ جنګ کې خو ضرور اغوندي زغره خلك

جلانه! نه پالي خواږه او موزیکاله پښتو
د هنرونو په وطن کې بې هنره خلك

۳۱ غویي ۱۳۹۶
کابل

د خپلو څڼو خوشبويۍ کې چې وي ته روانه
ته وا د غره د ونو منځ کې وي وياله روانه

خود به په زړو کې جوړوي د پرهارونو کوڅې
چې په جامو کې د ګلابو وي چاړه روانه

مئينه پېغله په ډولۍ کې ژاړي شاه ته يې ورا
اوبه هينداريٖ پسې يو کلی لمبه روانه

چرته يې؟ شپه غواړي د غبرګو وجودونو کيسه
چرته يې؟ بيا سپوږمۍ په سر د ديواله روانه

په تتيدو شول د جلان د شاعرۍ رنګونه
يوه بېړۍ مو د ادب مخ پر لويده روانه

۳۰ غويي ۱۳۹۶
کابل

په دې باور نشې چې اوس هم لکه غر ولاړ یم
دادی روان یم د شکیدلي پانړ په سر ولاړ یم

ظاهر مې مه ګوره داخل ته مې نظر واچوه
پخپل وجدان کې یو بدبویه سمندر ولاړ یم

ستا د ښایست له سرحدونو نه ساتنه کوم
دا چې مدام په تیارسۍ لکه عسکر ولاړ یم

ته هر یو تور راوړه په ما یې لګوه خو زه مې
د خپلې اوښکې غوندې تك سپین په تښر ولاړ یم

بس تقاضا به د حالاتو داسې وي جلانه!
لکه پاسته زر چې پر شنه اور د زرګر ولاړ یم

۱۳ غویي ۱۳۹۶
کابل

نه پوهیږم څه کمال جمال د شګو؟
رانه غواړي یو څوك ډك دسمال د شګو

پر شخصیت مې لګوي ټاپې درګرده
ساده ګان دي په ګلفرش کړي نال د شګو

روان سیند یې خپلې اورې د بل نه اورې
ستا خبرې ټولې سر او تال د شګو

چې له غم تښتم نو خوب ته پناه یوسم
لکه کب په ځان راخور کړم شال د شګو

له کم ظرفو سره ژوند کوم جلانه!
په اوبو کې جوړوم دیوال د شګو

۲۲ وري ۱۳۹۶
کابل

مونږ اشتباه وکړه ازغني وي د ګلو نه وي
مونږه په هغو لارو لاړو چې د تللو نه وي

په لاس يې درد شه په وجود باندې يې تبه راشه
دغه حسيني بايد ښکل واى د وهلو نه وي

پر ما دې داسې چارې وکړلې خوږه لاليه!
چې په يو دين په يو مذهب کې د منلو نه وي

دې ګلدرو باندې باران و د عطرونو پکار
دا ګلدرې خو په لمبو د سوزلو نه وي

يا د جلان دنګه! ازاده! ښکليېزه خياله!
خير دى وهلى به يې وې خو د وژلو نه وي

۶ ورى ۱۳۹۶
کابل

مینې عاطفې په نوم د یار په زړه کې شی نه و
لټ په لټ مې تیږې واړولې خو غمی نه و

ورغلم د سترګو تر محفل خو ست یې ونه کړ
ښکلي مراسم وو ماشاالله! خو درناوی نه و

دې صحنې د بم ته به وخت کوم رقم ځواب وایي؟
یښې یې ماشوم په ټټر خوله د مور یې تی نه و

ستا مخ ته دیوال زاهده! ښه قلندري شپه وه
ټول خوله خوله وو په وجود کې مو وچ ځای نه و

څه ووایم؟ ډېر کوشش مې وکړو چې سړی به شي
بس خو جلان هسې سړی و چې سړی نه و

۵ وری ۱۳۹۶
کابل

چې ځنګه به وې ګرانه کلیواله کلیواله؟
دا ډېر وخت دې خبر نه یم له حاله کلیواله

د خپلې ښکلا اور ته اړوې د وړکو مخ؟
د ونو منځ ته ګوري له دیواله کلیواله؟

اوس هم یې مشهوره د ګودر پر رسنۍ؟
اوس هم یې جونو میره خبریاله کلیواله؟

غرمه سیند غاړه شین فصل خوږه سیلۍ او سیوری
دریاده ده د پاڼ په منځ کې ځاله کلیواله؟

تصویر یې بلوم جلانه اوس هم غزل ښار کې
په زړه مې دې حاکمه ګل مثاله کلیواله

۱۹ مرغومی ۱۳۹۷
کابل

هغې په غیږ کې ونیومه د بخښنې ترځنګ
تعجب! چې روغ پاتې شوم څنګه د چاودنې ترځنګ؟

د وخت سړو سړو حالاتو مې احساس یخ کړی
لکه د واورې بوت ولاړ یمه د ونې ترځنګ

خود به له درده پټ پټ ژاړمه بیخي یوازې
مني کې ناستې وي مرغۍ د وچې غنې ترځنګ

ما د ګبینو جزیرې تماشه ډېره خوښه
اجازه ده چې لږ دې کېنمه د زنې ترځنګ؟

سلام پرې اچوه جلانه خو نور مه ورګوره
دلته هر چا ایښې ډبرې د لمنې ترځنګ

۱۸ سلواغه ۱۳۹۵
کابل

پوهېږم نه بېګاه د خدای د کوم تخليق دنيا وې؟
سيلاب سيلاب ښکلاوې دې پلو کې په خندا وې

چې مات مې دې هوس کړ د ګناه د ګونډو لاندې
پوهېږې؟ هغه وخت د سره لذت د اور رڼا وې

ولاړ وم لکه ونه سينه ارته چې ته راشې
ته راغلې لمس دې کړم خو بېرته تېره شوې هوا وې

منې؟ چې د شرنګا انځورګرۍ کوله ژوند
چې ته د خپل وجود د مستۍ ساز ته په ګډا وې

معلوم شوې راته ښه څه ځان بزرګ بولې جلانه!
راغاړې وې کړې، شپه ناروا وې که روا وې

۱۳ مرغومی ۱۳۹۵
کابل

مینه به پټه ساتم بیا به یې اظهار نه کړمه
د ګلو تخم به په تیږو کې هوار نه کړمه

ورځه شیدې شیدې غمبوري دې روغ بېرته یوسه
ورځه ورځه ځان به په سریخو کې ایسار نه کړمه

د ژوند خوږو ترخو سړو تودو راوښوده چې
حسن بازار به چیرې هم مینه بازار نه کړمه

زړه به په اور د باور پوخ کړمه هوسه! مګر
ستا شبنمي کچه سینګار نه به یې جار نه کړمه

لکه د بنګو پیاله غرقه په جلان واوښتم
پرې به یې نږدم چې ترخو یې توبه ګار نه کړمه

۷ مرغومی ۱۳۹۵
کابل

ووړ ووړ باران دانه دانه موسم دی
لاس راکوه عاشقانه موسم دی

زما په روح کې زرین اور روان دی
ستا په لیمو کې بهانه موسم دی

واورې نښترې او د زرکو غاړې
طبعیت اغوستی دیوانه موسم دی

راله فکرونه نظرونه تړي
څه زولنه ظالمانه موسم دی

ورته **غمي غمي سيندونه** شومه
جلانه سخت شاعرانه موسم دی

۲۱ لیندۍ ۱۳۹۷
کابل

پـه سر چاره چاپېره اور منځ کې يې زه ولاړ يم
د ژوند د سخت امتحان مخ ته زړه نه زړه ولاړ يم

شمال د اوښکو ته مې رپي پر مخ څيري څادر
د مړه ارمان په قبر نيغ لکه جنډه ولاړ يم

خلکو پـه زور د هوښياري ستورو کې خونې جوړې
خو زه ساده اوس هم د زړه په ديـواله ولاړ يم

د فاصلو د فيصلې په احترام درځنې
ملکونه لرې په وچ ډاګ لکه واښه ولاړ يم

په پرهرونو ږدم جلانه! د ازغـيو پتې
چې د انصاف د ګلابونو په کاله ولاړ يم

۲۱ زمری ۱۳۹۵
نوې کارته - کابل

خانده چې ستا خندان نظر رانه چاپیر روان وي
ته وا د ګلو منځ کې لمر رانه چاپیر روان وي

چې وړه لور راته دعـا کوي ډاډه شم دومـره
لکه د زغـرو سمـندر رانه چاپیر روان وي

د روژه ماتي د خورما غوندې خوږه لالیه!
چې راسره وې ګل منظر رانه  چاپیر روان وي

رهبري ښه وي مګر داسې چې دا ټول ولس مې
وړوکی سـتـر  ښځه او نر رانه  چاپیر روان وي

چې په وجود د خـواهـش عـطر لګوم جلانه!
نږدې به نه راځې چې شـر رانه چاپیر روان وي

۲۹ غویي ۱۳۹۸
کابل

که دا مني چې په سینه کې مې زړګی لرمه
نو احساساتو ته دې اوس هم درناوی لرمه

تخت او ماڼۍ نلرم خو که ته راځې درنه ځار
زړه کوټه شکیدلی کټ یو زوړ لمڅی لرمه

زما او ستا رشته ولاړه پر همدې اصل ده
چې ته ټیکری په سر لرې او زه پټکی لرمه

دا ژوند خو نه ارزي د دومره سرکوزۍ په بیه
ځه مړه! څه به زور او زرو پسې وای لرمه

جلانه! کله چې خپل شعر کې مجسم کړمه ځان
ته وا کټ مټ د لیونتون په منځ کې ځای لرمه

۱۰ زمری ۱۳۹۵
کابل

زندګي بې تا پوره نه وه خوږې
یادیدلې مې چاره نه وه خوږې

په اتڼ کې جونې د پرې اوښتلې
پکې سپینه میناره نه وه خوږې

ته چې نه وې نجات نه کیده له درده
دریاب و خو کناره نه وه خوږې

اخیسته د ساه غړپ غړپ ترخې اوبه وې
پیاله وه پکې بوره نه وه خوږې

د جلان په سترګو شپه جهنم خور و
رڼا لاس کې ورسره نه وه خوږې

۳۰ غبرګولی ۱۳۹۸
کابل

لاړه شه ځه خو زما زړه نه به دې څوك وباسي؟
دغه د سريخو له كاله نه به دې څوك وباسي؟

منم چې مخ به دې ور واوړي كعبه مخې مخ ته
مګر د درد د مندر وره نه به دې څوك وباسي؟

كنګلي خود به د ناخود خواهش تر غاړې كړې خو
د خپل فطرت اور بارانه نه به دې څوك وباسي؟

غرور دې واچولې سپين وجود ته ګڼې زغرې
د دې ازغي ازغي ځنګله نه به دې څوك وباسي؟

له ژوند يې لاړې خو مېشته شوې په هنر د جلان
ګلې له دغه ګل شپاله نه به دې څوك وباسي؟

۶ وری ۱۳۹۸
كابل

د انکار په اور ماڼۍ باندې ولاړ دی
یار د مار غوندې لکۍ باندې ولاړ دی

نیم لوڅ مخۍ پر بلۍ ولاړه ده که؟
ښکلا لمر د غره په ژۍ باندې ولاړ دی

دا چې سیند د سندریزو تصویرو یم
ستا نظر مې شاعرۍ باندې ولاړ دی

دا چې چوپ یم وجه داده انسانیت مې
د چاړې غوندې مرۍ باندې ولاړ دی

شرنګوه یې نڅوه یې ستا جلان اوس
ستا د غږ په موسیقۍ باندې ولاړ دی

۲۵ لړم ۱۳۹۴
کابل

حال یې خراب شي چې ناڅاپه په تا راشي سړی
خامخا سخته زلزله کې ورخطا شي سړی

یار چې له نازه را اوبه اوبه شي داسې شمه
لکه په خوب کې له جګ ځایه په هوا شي سړی

چې ما بد وکړل او تا ښه وکړل نو څنګه وکړم؟
پا یله یې دا شوه چې ضرور ځان ته رسوا شي سړی

چې شړك باران سکنی ماښام په خام پیمخي واوړی
دا نو بیا سخته ده چې ټینګ دې په تقوا شي سړی

د درد غزل چې په جلان راشي نو دغسې شي
لکه بیمار باندې چې غره کې ور په شا شي سړی

۵ لړم ۱۳۹۴
کابل

څه به پوښتم چې جادوګرې ښکلا چیرته لاړې؟
ته د هینداري او د ګل ترمنځ کوشیر ته لاړې

تش لاس دې کېښود پر ما ما نه تر دنیا واوښتې
له کم نه ډېر ته راغلې ډېر نه بیخي ډېر ته لاړې

اوس به نو څه د مینې هیله درنه ولرمه؟
د خپل کچه غرور په خامو لارو غیبیر ته لاړې

ستا څه تاوان و؟ درد دې راوړو او خندا دې یوړه
ډکه لمن راغلې او ډکه لمن بېرته لاړې

په خام لالي دې تکیه وکړله جلانه ګله!
انجام یې دا شو خلك مخکې ځي ته تېر ته لاړې

کابل

غیبیر: قصد یا کینه

ستا څنګه وخت تېرېږي بې له مانه دروغجنه؟
اصلي خبره داده چې جانانه دروغجنه

پناه وې په خندا وې چې مې ګورې ژاړې ژاړې
دا ته یې څومره ډېره مهربانه دروغجنه

که وژنی مې نو مخامخ مې ټول ځان دربخښلی
له شاه نه خو وار مه کوه ناځوانه دروغجنه

منم دې پیرزوینه چې په سر مې یې ولاړ خو
د ځمکې غېږ ته نه لوېږې اسمانه دروغجنه

له زړه نه مې په خدای که یوه زره وځي جلانه!
د خپلو بهانو پر بام ودانه دروغجنه

۲۷ لیندۍ ۱۳۹۷
کابل

زړه مې ښه درد کوي خو درد په هنر نه اوړي
خدايزده چې ولې دا اثر په اثر نه اوړي؟

بيګاه هغې راباندې لوڅې ليچې واړولې
ګيډۍ لونګ يې څکه نن په ټتر نه اوړي

زه به د ستا د زورور حسن په وړاندې څه وم؟
سپوږمۍ که هر څه شي خو لاس يې په لمر نه اوړي

زه درنه ځار غرور مې مه ماتوه يار! خلك
کور ته په وره ورننوزي په ور نه اوړي

ستا دا خبره مې اوس هم په تصور کې راشنه
چې جلان خاورې دی او خاورې په زر نه اوړي

۱۴ زمری ۱۳۹۴
کابل

درد دی او درد دی بس دی مسته شاعري کومه
له دې نه پس ښکلا پرسته شاعري کومه

چې ستا کاږه وږه بانه کړې وړې نغمې کړم
پوی شه چې یاره! زبردسته شاعري کومه

چې دبرزړو ته تصویر د ژوند او مینې ورکړې
د اینو سره پیوسته شاعري کومه

مخکې تنها ومه تنها به مې سندرې ویلې
اوس د خواږه جانان په مرسته شاعري کومه

لفظونه وشرنګوه ساه د هنر پو کړه پکې
جلانه! دا څه سسته پسته شاعري کومه

۲۲ زمری ۱۳۹۲
کابل

چرته وړې د پيغلو سترګو پېغله ښکلا چرته وړې؟
ځار دې شم په شاتو کې لړلې رڼا چرته وړې؟

ستا مسکا د ګلو په سرونو شبنمي هوا
دا د رنځورغاړو ارمانونو دوا چرته وړې؟

دا اومه خولګې دا د شيدو چينه اف زړه مې چوي
و د ناز ظالمې! دا ثواب او خرما چرته وړې؟

نه اورې د زړونو د لويدو د ماتېدو درزا؟
ته په دې نازك وجود دا لويه ګونا چرته وړې؟

مړې به شي سندرې د جلان درپسې تندې نه
دا باراني مينه غځيدلې شرنګا چرته وړې؟

د چاړې خورې مه پوښته چې په څه حال دې کړمه
په وله بيله سمه تيله چې حلال دې کړمه

څنګه ايرې ايرې نشمه باد مې نه وړي
د ګل څادر وم د لمبو د ناوې شال دې کړمه

د خپلو اوښکو د ويالې په غاړه ناست يم ښورم
د اسويليو د تاوده اوړي شمال دې کړمه

له دې نه وروسته به مې شعر نه ناهيلي بهېږي
ښه شوه دنيا ته د ناهيلي ژوند مثال دې کړمه

غر وم جلان وم چې د نه په وار دې وويشتمه
داسې دې مات کړم چې د ټول عمر زوال دې کړمه

ستا دې په مخه ښه وي جان جانه وعده کومه
زه خپلې مينې ته تمام عمر سجده کومه

د زړه سنګيړ ته مې بيا مه راځه دردمنه به شې
له نن نه پس پرې د دردونو کرونده کومه

ته پکې ناڅاپه زيړګلې دره وغځېږې
زه چې په مينه د ښکلا مشاهده کومه

د هنر خدايه! چې نغمې پکې لمونځونه وکړي
د زړه د وران جومات لپاره مې چنده کومه

په دې خاطر چې زمانې راباندې شکې نشي
جلان ساده نه يم خو خوی ساده باده کومه

داسې يې د مړو سترګو له رپ رپ نه خوارۍ ځاڅي
لکه د لمده ګلاب له پاڼو نه اوبه ځاڅي

مينه چې مړګوني شي عادي ده چې ژړا وشي
تپ چې کوټه وکړي نم د چت په ديواله ځاڅي

داسې يې د سرې لوپټې پيڅې په ځوانۍ خورې
لکه دا نازك شفق نرۍ سرخي په غره ځاڅي

ګرم نه يم چې ستا په غېږ کې دړې وړې ولوېږم
وړه چې ډېر لاټده شي په لمن د تناره ځاڅي

دا يوازې اوښکې د جلان د سترګو مه بوله
تا پسې يې وجانه د اوښکو په نوم زړه ځاڅي

۹ لړم ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

ځان ورانومه مګر ځان ابادومه بېرته
د محبت خښتې په دې دیوال کې ږدمه بېرته

موسم بدل شو تقاضا مې د زړه واوښتله
نوي لالیه په زاړه دې بدلومه بېرته

مړ وم ژوندی شوم په دې تمه چې اوبه به وې اوس
ته چې همغه شنه ډبره یې نو مرمه بېرته

له مودو وروسته خدای ناڅاپه په لاس راوستلې
اوس نو خپل ټول قضا لمونځونه ګرځومه بیرته

جلانه یاد مې شوې چاقو مې بیا په اور کې سور کړ
په سپینه لیچه دې ظالمه نوم لیکمه بېرته

۱۵ غويي ۱۳۹۸
کابل

نازدانه انکار يې داسې د خوږو خبرو منځ کې
لکه تت اور چې بلېږي د سرو سپينو زرو منځ کې

بيا به څومره معصوم زړونه د سلګيو له تيغ تېر شي
يوه ارزو په کمين ناسته د نظر د زغرو منځ کې

زه هغه اوس د ژوند داسې مرحله کې سره اوسو
لکه مات چې اعتماد وي د سنګر ملګرو منځ کې

په بې فکره جامعه کې يو شاعر يم ژوند مې داسې
لکه سور ګلاب ولاړ وي د کږو ډبرو منځ کې

د زګروي اواز يې اورې؟ ستا جلان دی راشه راشه
لکه ژوبل مرغه ناست دی د زخمي وزرو منځ کې

۱۴ غبرګولی ۱۳۹۲
کابل

## خدای ته لیک

وايي ته ډېر ښکلی يې
ان دومره ډېر چې له شمير زيات يې
او بې شمېر ښکلی يې
ستا د ښکلا يوې زرې تاب کاينات نلري
وايي ته ډېر مهربان
ان دومره ډېر لکه مور پلار په اولاد
له دې اويا چنده زيات
وايي ته سخت قهار يې
ستا له زرې قهر نه
سره دوزخونه امانونه غواړي

***

د ښايستونو پاچا!
لويه مهربانه ذاته!
ای زوروره خدايه!
سلام سلام په دوه لاسي مې سلام
نن دې له خاورې نه جوړ کړي انسان
سل او زر زړونه سره يو کړي دي
د زړه ژورو نه د درد په ژبه

ستا د لوی شان په وړاندې
یوه مودبه ګستاخي کوي پوښتنه کوي
او تاته لیك لیکي
په چیغو ژاړي

***

د ښایستونو پاچا!
سلام سلام په دوه لاسي مې سلام
دې ویړ جهان په دې غني جهان کې
زما د خاورې او ختین وجود اړتیا څه شی ده؟
ها کومه تشه ده چې
زما ناڅیزه وجود ډکه کړې؟

***

د ښایستونو پاچا!
سلام سلام په دوه لاسي مې سلام
ته خو بیشکه چې پوره یې
ستر یې لوی ذات یې
ته خو په هرڅه باندې پوی ذات یې
خو زه بنده یمه نیمګړی یمه
نو بیا دې ولې دومره هیلې خواهشات غوښتنې

نو بيا دې ولې مينه کرکه او سل نورې داسې
په ما کې وکرلې؟
نو چې دې وکرلې
نو بيا دې ولې د بنديز په رسۍ
داسې تړلی يمه
که لږ ځان وخوځوم
نو مستقيم به جهنم ته درومم

***

د ښايستونو پاچا!
سلام سلام په دوه لاسې مې سلام
له پيرزوينې دې مننه کوم
چې دې انسان او مسلمان پيدا يم
په تن دې روغ ژوند کې روان پيدا يم
خو د بشر په دومره ستر ټبر کې
ولې پښتون پيدا يم؟
ولې دې ننګ غيرت او داسې سل او زر بلاوې؟
زما په خټه کې غږلي راته

ولې مې ژوند مينه او نوره ناروا او روا؟
فقط د شرم په نوم ټکي نه
مدام قربان دي

***

د ښايستونو پاچا!
سلام سلام په دوه لاسي مې سلام
روح ورکوونکی اخيستونکی ته يې
عزت ذلات د رزق ورکړه هم د ستا واك کې ده
هر څه د ستا واك کي دي
د قدرتونو ربه!
که عبادت کوم د ستا به کوم
د بل بنده بنده دې ولې کړمه؟

***

د ښايستونو پاچا!
سلام سلام په دوه لاسي مې سلام
دا به مې هر څه په تقدير کې ليك وي
خو زه مې غواړمه تقدير بدل کړم
ځکه تقدير خو په دعا بدلېږي
نو بيا زما دا څو کلنه دعا

د رڼو اوښکو په تك سپين لباس کې
دا په پوره اخلاص پوره باور بشپړه ايماني فضا کې
دغه عاجزه او خوږمنه دعا
ته ولې نه قبلوې؟
نو د ښايستونو پاچا!
زه نوره ستړې يمه
زه بيخي مات يمه ناتوانه يمه
ما مې در وغواړه نور
زه په ژوندوني هم يو مړې يمه
***

۳ مرغوی ۱۳۹۷
کابل

استاد سعدالدين شپون ته !

**غر هنر**

واه واه د شپيلۍ په سرُ خوږه سندره اورمه
مړ يې کړم په کيف څه جانانه خبره اورمه
اور کوي منې؟ چې مينه ناکې فضا اور کوي
غږ د خواږه زړه د طبعيت له دره اورمه

***

شور په لوړو تاړو کې د ښکليو اوازونو دی
مست د غره محيط د ناز او نياز په سرودونو دی
زنګ د زړونو مينځې دغه غږ د هغه زړه بوله
چرته چې د مينې سمندر په غورځنګونو دی
څه دانه باران مې د پښتو په ګلځونو دی
ته وا دا موسم مې د جنت له موسمونو دی

***

درومم د شپیلۍ په خواږه رګ پسې په ونو کې
ډوب یم د فطرت د لذتونو په لمنو کې
مخ ته را رواني غیږې غیږې د ګلونو دي
څه خوږې وږمې مې بدرګه د قدمونو دي
ټول وجود مې مینه مینه ټول وجود ارمان ارمان
تږی د ذوق تږی یم په تنده کې روان روان

***

اه هیڅ کنه ستوری مې د بخت شو رابیدار شکر
دغه دی اوبه مې شولو اور د انتظار شکر
زه له ګل مزله ګل منزله پورې راغلمه
دادی د سندرې تر درشله پورې راغلمه
دغه ده په لاس کې یې شپیلۍ د جادوګر هنر
غرونه په سندرو غږوي دا لکه غــــر هنر
شنه ګل ګل شړۍ مې د شپانه بابا په غاړه ده
ته وا زمانه په هنرونو کې ولاړه ده

۱۸ لړم ۱۳۹۳
د استاد سعدالدین شپون نمانځغونده - کابل

## زوروره ماتې

لا مې خوله دولس کلن پرهر ورنکړه
لا تر څاڅي د سرو وينو سره ګلونه
لا مې غيږ د سکون ډکه له سکروټو
لا مې ريږدي شوګيرونو کې خوبونه

لا مې زړه د ليوني ارمان غلام دی
لا په لپو خورم دردونه خنجرونه
لا مې ټول وجود چينه ده د سلګيو
لا مې سترګې دي د اوښکو څراغونه

لا مې خيال ځينې ګلپاڼه وتې نه ده
لا يې ناست يمه د ماتې مينې اور ته
لا شيبه شيبه وجدان ته ملامت يم
ته وا څوك مې کوزه وي په ژوندون ګور ته

مبارك شه و جلانه و بدبخته!
نن دې بيا له لاس زرينه پانه وزي
دادی بيا د زوروري ماتې ښکار شوې
چې له ژوند دې مينه مينه پانه وزي

بيا دې مخ ته راټوکېږي د اور غرونه
بيا دې پيل شول په اورونو مزلونه
بيا يوازې شوې د غم د بلا خولې ته
بيا اغونده فريادونه پرهارونه

بيا دې شعر کې د درد سره شپيلې غږېږي
بيا به راوړي د ګلپاڼو اتڼونه
بيا به شنه شي د هيندارو په دره کې
سوي سوي غزلونه تصويرونه

نه نه دا ځلې کيسه په بل رقم دی
دا ځل ژوند ته دي ولاړ د مرګ لاسونه
په لاسونو کې پړکېږي د مرګ توري
پرې قتلېږي به د دوو مينو زړونه

خدای خبر؟ چې د دې مينې ترجمان شې
خدای خبر؟ چې کړي دردونه ګلابونه
بس چاپېږي به دې وروسته له ژوندونه
د يارانو په لاسونو کتابونه

***

اروانباد استاد محمد صدیق پسرلي ته!

## زرین خوب

څوك به مرور حالت له یو بل سره وتړي؟
څوك به اور اوبه غاړه غړۍ کړي چې ګلونه شي؟
څوك به زمانو ته په لمنو نغمې وکړي؟
څنګه به دردونه پیغامونه سرودونه شي؟

څوك د نۍ کوڅه کې رڼې څړیکې غبرولی شي؟
څوك ماته شپیلۍ په هنري ګوتو وهلی شي؟
څوك به پستور په وچو للمو اورولی شي؟
څوك به په تیارو باندې سپیدې راخیژولی شي؟

څوك به زرغونې جامې له خړو خاورو واغوندي؟
څوك به بخملینې صحراګانې تاندې وساتي؟
څوك به د ګلپاڼو په مخ پروت شبنم سندره کړي؟
څوك به تاندي تاندې ښکلاګانې تاندې وساتي؟

تمه او دمه د لر وبر د نظرونو وه
ها د دنګو دنګو خیالو دنګه مانۍ ورانه شوه
ها هستي چې زړونو ته چینه د خوږې مینې وه
ها په یوې ورکې او اوږدې لاره روانه شوه

وړانګې یې نسکورې په سلګیو په سیلیو کې
تتې مو هینداري د جوهرو پسرلی اوده
مړاوی د پښتو دشعر وطن مو مړاوی مړاوی شو
اخ په زرین خوب شو د غزل د سر سړی اوده

۲۵ مرغومی ۱۳۹۲
(د اروښاد پسرلي صیب د مړینې ورځ - کابل)

## تا ښکلا ولې پخوله په اور؟

بیګاه مې خوب ولیده
ته وایه ښه دې لیده
خوب کې مې ته لیدلې
چې د غمیو په غونډۍ ناسته وې
له سرو ګلپاڼو دې جامې جوړې وي
پر پښو دې پښو وي د الماسو پڼې
پر سر دې تاج د وړانګو
په هره وړانګه کې اوه رنګه ښکلا زرغونه
او په لاسو کې دې دوې بلې ډیوې
خپلې سینې په لور کړې نیولې
د ډیوو کوږ اور باندې
اوږده باڼه تیره وې

زه وایم دا څه کوې؟
مه کوه مه کوه باڼه سوزوې
ته وایې چوپ شه ساده ګله ګله!
ته د ښکلا په انداز څه پوهیږې؟

ته د اوبو په منځ کې
په  بليدونکي رڼه اور غوندې ناز څه پوهېږې؟
و ساده ګله ګله!
زه مې ښکلا پخوم
زه مې بانه تېروم
له دې خبرې سره کټ کټ له خندا نه شنه شې
ستا په کټ کټ خندا له خوب ويښ شوم
نو ګرانې ته راته د دغه خوب تعبير وو ايه؟
تا ښکلا ولې پخوله په اور؟
تا بانه ولې تېرول په لمبو؟

***

۲۰ سلواغه ۱۳۹۴
کابل

## د ښکار شوق

نن د ښکار په شوق راوتی یم له کوره
په اوږه کې مې دوه ډزی ټوپك پروت دی
د شنو ونو په درانه سیوري کې درومم
د پښنو لاندې مې د خسو خراپا خیژي
کله کله مې له پښنو نه تیږه ووزي
ښکته غره کې عجبه ګړبهار جوړ کړي
***
نن د ښکار په شوق راوتی یم له کوره
مخامخ د نیمې وچې ونې لاندې
یو ډنډوکی د رڼو اوبو ولاړ دی
ترې چاپیره څو ګلونه د ګوګړ دي
چې سیلۍ یې رپوي نازکې پاڼې
زړه مې غواړي چې په غاړه یې دمه شم
په رڼو اوبو یې وچې شونډې کېږدم
***
نن د ښکار په شوق راوتی یم له کوره
هاغه ده د هغه لوړ کړنګ په لوړې
شنه بخنه غرنۍ کوتره راغله

په پنجو کې یې نیولی یو سور شی دی
ټولوي ورو ورو په ځان پسې وزرونه
واه واه کیناسته په منځ کې د ډبرو
ته وار وکړه چې ټوپك مې ورته سم کړم
د خپل ښکار لیونۍ تنده پر اوبه کړم
داده زخه مې پوره پرې وختله
بس نو ګوته مې ماشې ته د ورورو ده
ها ده دوړه شوه په منځ کې د ډبرو
شنه کوتره مې په خپل وینو سره کړه
ورسره یې خوا کې غبرګ واړه بچوڼې
رپوي په کاڼو بوټو کې وزرونه

***

نن د ښکار په شوق راوتی یم له کوره
اوس نو غواړم چې مي کړی ښکار راواخلم
خو ښکار جګ د کړنګ منځ کې او زه بېخ کې
ورختلو ته هېڅ لاره نه جوړېږي
اوس نو بېرته وړم په خپلو اوږو باندې
له ټوپك سره افسوس او قتل دواړه
۲۵ زمري ۱۳۸۸
کابل

## سړ یو بد زیری لرمه

سړ مې نوی کال په غم دی
سړ خفه خفه خفه یم
سړ له ځان څخه په تېښته
سړ د زړه په رنځ اخته یم
***

سړ یو سخت مرګونی اور مې
په احساس باندې بلېږي
په ظاهر مې بدن روغ دی
خو وجدان مې ترې سوزېږي
***

سړ خواږه مینه ماتېږي
سړ بې دریغه خطره ده
سړ مې داسې سفر مخ ته
چې قدم قدم تیاره ده
***

سړ يو بد زيري لرمه
معنوي قوت مې وژنم
شاعري مې ختمومه
تصويري فطرت مې وژنم
***
سړ به راشي پسرلی خو
زه له ژونده محرومېږم
انسانيت په تيږو ولم
له خپل ځان نه رخصتېږم
***
۲۷ کب ۱۳۹۲

## کليزه

واوره باران ګډ اوريدل
ورځه اوبه اوبه وه
د ښار په واټ کې د ساړه ژمي شرنګا ختله
چې ته....
ته په ناروغ وجود، نازك وجود
د مينې او خلوص په ګامو
لکه لمده زانه په تور لباس کې
لمده خيشته راغللې
د ښکلاګانو له اووم اسمان نه
له نوره ډکه فرشته راغللې

***

واوره باران ګډ اوريدل
ورځه اوبه اوبه وه
همدغه ورځ زما په ټول عمر کې
يوه عجبه ورځه وه
اى! ورځه نه
د ښکلاګانو زرمخيزه ننداره ورځه وه

ځکه چې ستا د بخملین وجود له تاره تاره
د مینې شات بهیدل
په دغو شاتو کې
د خدای د نعمتونو لذتونو کاینات بهیدل
شیبې سرور کې اوښتې راوښتې
او وخت د سپینو خمارونو جام و
چې زړه او سترګو خولې دې
په یو زرین انداز په یو غږ ویل
جانه! کلیزه دې زر ځله مبارك مبارك
دغه ساده ډالۍ په ډېر څه منه

***

واوره باران ګډ اوریدل
ورځه اوبه اوبه وه
په هغه ورځ په رښتیا وپوهیدم
چې مینه ژوند او جانان څه ته وایي

***

۱۲ وري ۱۳۹۲
وزیر کلا - کابل

## تړاو

زمونږ د کور د انګړ منځ کې یوه شنه ونه ده
دنګه ځواني یې غونډه منډه او پخه ونه ده
ځولۍ ځولۍ د اوبو څاه باندې خوره ونه ده
دا ونه څه ده ښایسته ښکلی موجود د خالق
زه له همدې ونې نه ګورمه وجود د خالق
ځکه دا ونه ماته ډېر داسې رازونه ښيي
چې په هر راز کې یې زرګونه زمانې پرتې دي
خو انسانان ورباندې نه پوهېږي

***

زمونږ د کور د انګړ منځ کې یوه شنه ونه ده
اوړی چې تود شي کورنۍ مو وي راغونډه
د دې ونې لاندې
له ساړه سیوری یې سوړ ژوند اخلي
او له میوو نه یې مونږ نه یوازې
ان ګاونډیان هم بلا خوند اخلي

***

زمونږ د کور د انګړ منځ کې يوه شنه ونه ده
زمونږ رويه له دغې ونې سره داسې ده چې
هم يې کينو سيوري ته
هم يې ميوې په شنو ډبرو ولو
چې کوم يو شاخ يې يو څه وچ ښکاره شي
تبر را وخلو پسې
په بې رحمۍ ترينه شاخ ورژوو
د نغري يوې لمبه لپاره

***

زمونږ د کور د انګړ منځ کې يوه شنه ونه ده
دا ونه څه ده؟
اخ خالقه! کټه مټه لکه زه داسې ده
زه هم د دې ونې په شان ته
يوه پيغلې يوه ښکلې دنګه چټه پيغله
د کورنۍ ښکلا يم
د خپل کاله هر څه په ما سنبال دي
خو لکه مونږ چې د دې ونې ارزښت نه پيژنو
داسې زما کورنۍ
زما له زړه ځوانۍ او ژونده ځينې

زما ارمانونه خواهشات او زما هيلې وژنې
لکه ها ګونګه ونه
دغسې زه ګونګه يم
زما د خولې زما د زړه په دروازې پسې کلف پروت دی
ای! د حيا  شرم د ظلم کلف
او د پښتو د رواجونو کلف

***

زمونږ د کور د انګړ منځ کې يوه شنه ونه ده
ښومره ښايسته ښومره مظلومه ښومره ښه ونه ده
زه ژوند کې دې ته لاړه
ده مې هم ژوند ته راکړه ونه ده
زه هم د دې د ژوند نيمګړی انځور
مګر زما د ژوند اصلي انځور اصلي ښيره
همدا ونه ده
نو مونږ يوې بلې سره
داسې خوږه اړيکه
داسې تړاو لرو

## دا د قانون حکم دی

د جيل د ځمکې تل کې
يوه تياره يوه کوچنۍ کوټه ده
داسې تياره
چې د لمر څرك په کال کې هم نهويني
دومره وړه
چې پکې پښې هم پوره نه غزيږي
مخ ته يې تورې زنګ وهلې دروازې پسې
يو غټ کلف پروت
په دې کوټه کې ننه
يوه ببر سرې يوه خيرنه ښځه
يوه بدمرغه ديرش کلنه ښځه
کالونه کېږي چې د خپلې بې وزلې او نامالوم سرنوشت
په خاطر شپې تېروي
خدايزده په کوم جرم په کومې ګناه؟
د ژوند شيبې د وخت په زهرو کې ترخي تېروي
دا د قانون حکم دی
چې ده به دلته اوسي

خو قانون دا نه ګوري
چې د دې ښځې دوې پيغلوکې
او بې پلاره لوڼه
له روڼ سهاره تر ماښامه پورې
د ښار واټونو کې خيرات غواړي
او کله نه کله شي مجبورې په دې
چې د ناولو لنډغرو د هوس په وړاندې
خپله حيا او خپل بدن قربان کړي
دا د قانون حکم دی
قانون په هغې ديرش کلنې ښځې
او د هغې په غبرګو لوڼو باندې ښه پلی دی
خو د زورواکو لنډغرو مخ کې
قانون سجده د غلامۍ لګوي

***

۱ لړم ۱۳۸۹
نوا راډيو - کابل

## بخت مې په ورغوي کې مړ

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
هره خبره دې په سترګو منم
خو چې له ما کومه غوښتنه کوې
په ما زرينه لورينه کوې
تکل مې ژوند ته د راتللو کوې
دا هيڅ امکان نلري
ځکه زما او ستا ترمنځه فاصله ده دومره
لکه له ځمکې تر اسمانه پورې
لکه زما نه ان زما تر ورك جانانه پورې

***

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
ته د ژوندون د ښکلاګانو په درو کې لويه
زه د ژوندون د بدمرغيو پښو کې دل پروت يم
د زنګ وهلي درد په تور ځنځير کې
د ساه وتلي غوندې شل پروت يم

***

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
تاته دې غواړي کورنۍ داسې څوك

چې شتمني ولري زور ولري
د ښار تر ټولو قيمتي سيمه کې کور ولري
ستا پر شخصي موټر سربيره درې څلور ولري
داسې د ژوند امکانات نور ولري

***

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
زه خو پردی مزدور په شنه سهار راپاڅېږمه
تر تور ماښامه زندګي د غلامۍ کومه
شيبه شيبه مې تماشه د بل بنده د بندګۍ کومه
په لاس کې سره نلرم سپين نلرم
بخت مې ورغوي کې مړ
بخت مې په ورغوي کې راشين نلرم
نو ګرانې زه څه لرم؟
غريب سړی يمه غريب شاعر يم
د ژوندون ټوله سرمايه مې
څو دردونه څو مات ګوډ شعرونه
خو ته پوهېږې چې په دې محيط کې
شعرونه څو وي معنويت يې څه وي؟
دلته فکرونه زړونه ټول دي په مادياتو ولاړ

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
مونږه د داسې یوه قوم وګړي
چې محبت پکې له سره کفره هم سخت جرم دی
د وحشتونو د بدرنګو دیوالونو منځ کې
د تورو بدو رواجونو بازار ښه ګرم دی
***

ګرانې درځار شم صدقه دې شمه
دادی خدای روی مې دروړی ځان دې ښه وساته
نازك وجود دې د دردونو له غبار وڅنډه
خپل غوړیدلی ګلابونو د نازکې ښکلا
د ژوند خوږو خوږو اوبو باندې لانده وساته
د نن هینداره کې
انځور د خپل ښکلوکي مستقبلووینه
په مینه مینه په کټ کټ ورته خندا نه شنه شه
په ما او زما په مینه
ګرانې د شنو ډبرو غر واړوه
***

۲۴ چنګاښ ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

## بينجاره

چې سحر شي لمر تر کليو پورې راشي
زه مې خپل د بينجارګۍ د سامانونو
ډك وړکی صندوق شا ته وتړمه
په مزه مزه د کليو په لور ورشم
ښه په لوړ غږ د سودا نارې وهمه
ماشومان لکه واړه ورکي له هر خوا
په ترپکو په چکچکو را راون وي
د چا لاس کې وي زړې زړې چاپلکې
د چا لاس کې وي زاړه د ميسو لوښي
د چا لاس کې يوه روپۍ او دوه روپۍ وي
دوی له مانه شيان غواړي زه له دوی نه
بدلول رابدلول وي د شيانو
يو وړوکی خوندور بازارګی جوړ وي

***

تر غرمې پورې په ډېرو کليو ګرځم
خو چې تکندې غرمه شي
د دې منځ کلي ته راشم
د زاړه توت خوا ته کينم

یوه سوزنده ناره کړم
سودا واخلئ! سودا واخلئ!
په زړو زړو چاپلکو
په زړو مسینو لوښو
ورکوم نوي شیان مې
***

له مې دمه جوړه نه وي
چې بیا ګڼه ګوڼه شي د ماشومانو
په دې وخت له نږدې خوا راپیدا شي
یوه دنګه شین خالې لیونۍ پېغله
په خواږه انداز یو غږ راباندې وکړي
بینجاره ماما ته بیا څه شی راوړي؟
چې د کلي ماشومان دې کړل پرې سترې
په دې غږ کې دومره خوند وي دومره زور وي
چې د زړه او وجود ستنې مې
بې واره په درزا شي
الق مې وچ شي خوله مې بنده بنده کېږي
په تتوې ژبه وایم
والادا د بینجارګۍ شیان دي ګورې
دا بنګړي دغه رانجه دغه لختۍ دي

دغه نور شیان چې ګورې
دا دغو ماشومانو د مستۍ دي
پېغله کیني ښه نږدې د صندوق خوا
کله یو څه کله بل څه شي راواخلي
په ټیټ غږ په مینه ناکه لهجه وایي
دا په څو دی دا په څو دی؟
ورته وایم دا په دا دی دا په دا دی
دا مې ټول شیان ګډوډ کړي
راته وایي دا ښه نه دی دا قیمت دی
په دې وخت کې د کمیس جیبه ته لاس کړي
یو شی پټ مې د صندوق په کونج کې کېږدي
او په پښې باندې مې ولګوي ښه کلکه نوکاره
زه اخ وکړم!
او ده پاڅي
په خندا کې وایي
بینجارګیه! خدای دې مړ کړه
همیشه راځه غرمه کې
***
**۱۵ وري ۱۳۸۹**
نوا راډیو - کابل

## يه د كابل ملوكې!
## يه د وطن پرښتې!

يه د كابل ملوكې!
يه د وطن پرښتې!
يه د پغمان د ښايستونو په شنكۍ دره كې
د انسانانو په لباس كې د وحشاني ځناور دارو كې
زخمي خوركې!
ستا د معصوم وجود له درده صدقه صدقه
ستا له غيرت ستا له همته قربان
چې د مرګي تر حده
تا په ځان غرونه غرونه غم تېر كړ
خو د خپل پت خپلې حيا په خاطر
لكه ډبره غلې پاتې شولې
زړه كې دې يو سمندر شور يوړو
زړه كې دې يو كاينات درد يوړو

***

يه د کابل ملوکې!
يه د وطن پرښتې!
يوازې ته نه يې په دې وطن کې
دلته ورې پنځه کلنۍ نجونې
د ځناورو د وحشي هواسو لاندې
په سلګو سلګو له ژونده تلي
دلته ناهيد هم
د وحشت تيارو ته
د تقدس بله ډيوه ورکړې
داسې زرګونه بيلګې نورې واخله

***

يه د کابل ملوکې!
يه د وطن پرښتې!
وطن د ستا په درد سلګۍ وهي او وير کوي
د دې وطن اواز خو دومره ضعيف نه دې درځار!
چې ستا پرهر ته به ګلاب را نه وړي
***

یه د کابل ملوکې!
یه د وطن پرښتې!
ناهیلې نه شې خورې!
مظلومه نه یې نه نه مظلومه مه شې خورې!
خو مظلومیت به دې د خدای د غضب زور واغوندې
ستا د فریاد ابابیل
به خپله وګورې چې
د وخت وحشي ابرهه خوله ماته کړي
***

۱۲ وری ۱۳۹۳
کابل

یادونه : دغه شعر په پغمان کې د یوې کورنۍ په درو مېرمنو باندې د جنسي تیري څخه پر اغیزې لیکل شوی دی.

## زهري مزه

اشاره سره ده
ځلورلارې کې
کتار کتار موټر ولاړ دي
یو سره موټر کې ناستې
دوې ښایسته نجونې یو ځوان هلکی
او د موټر تر څنګ یې
د منځنۍ ونې یو ځوان ولاړ دی
سر یې ببر ږیره ببره
مخ یې چخې چخې
په ګریوانه یې لیاړو تار کړیدی
او ښۍ پاینڅه یې تر ځنګون پورې دورځه ولاړه
لکه د اوسپنې شپیلۍ وي په لوګیو توره
په خپل ډنګر توربخن لاس باندې
د سره موټر شیشه ټکوي
یوه نجلۍ ورته له بندې شیشې وګوري
بیا مخ واوړي

خو ځوان تکرارتکرار شيشه ټکوي
په بهانې د لوړې
د يوې زهرې مزې لپاره
څو روپۍ غواړي

***

۱۶ وري ۱۳۸۹
کابل

## مئینې زمانې

ته د هغې زمانې یې
زه  د دغې زمانې یم
ته له هغې خوا را ړنګه
زه له دغې خوا در مات یم
ته ښکلا مینه سرور یې
زه د درې وارو غلام یم
ته زما له سترګو ګورې
زه د ستا له سترګو ګورم
ته زما د ذات په ختبه کې غړلی زرین روح یې
زه د ستا نازك مزاج کې
زرغونه لمن د ګلو
ته شاعره زمانه یې

مخاطب دې د شعر زه يم

زه شاعره زمانه يم

مخاطبه مې د شعر يې

نو اوس پوی شولې ګرانې!

چې دا څومره خوږ ترون دی

دوې شاعرې زمانې دي

په يوې بلې مئينې

***

۱۷ سلواغه ۱۳۸۸

کابل

## د يونان لاره

لمر په لويدو دی
ماښام ورو ورو خپل څادر غوړوي
سړه او تونده سيلۍ
د ونو پاڼې اړوي راړوي
د خړ خاورين د وچتي کور د دروازې تر څنګه
د تناره په مورګه ناسته
يوه ځوانه ښځه
په ځنګانه يې کينولې
يوه ښکلې درې کلنه نجلۍ
د نجلۍ لاس کې يو کنډك
د تناره د ډوډۍ
خو ښځې غبرګې سترګې
د مخامخ کنډو په لار ګنډلې
په خړو خړو اننګو باندې يې
يوه يوه اوښکه رامنډه کړې او ښکته توی شي
نجلۍ په خواره خوله پوښتنه کوي
مورکې!
بابا مې کله راځي؟

مور يې وړه نجلۍ په ټنډه ښکل کړي
په ژړغونې انداز ووايي چې
لورکۍ بابا دې راځي
خوږې! سبا به راشي
خو زړه کې وايي لورې
بابا دې نه راځي بيا
هغه په لار د يونان لاړو لاړو
د سمندر ماهيانو نس ته تېر شو

***

کابل

## ماته کفن مه کوئ!

زه د وطن سرتیری
زه په وطن شهید یم
ما مې پخپل وطن په خپله خاوره
په مقدسه ګله خاوره
ښه په سپیڅلې روحیه
ښه په سپیڅلي عزم
تر اخري سلګۍ
په وینه وساتله وپالله خاوره

زه د وطن سرتیری
زه په وطن شهید یم
ماته کفن مه کوئ
زما دریشي زما کفن زما اصلي لباس دی
زما عمري لباس دی
غواړم جنت ته په ځانګړې افغاني دریشۍ کې
په دې مغرورې مقدسې او عمري دریشۍ کې
په مینه مینه په خندا لاړ شمه
خو په تابوت باندې مې

د ګران هیواد ملي بیرغ واچوئ
یا مې د مور پړونی
د مور پړونی به مې روح ته تسلي ورکوي
ملي بیرغ به مې تر عمره عمره
هیوادنۍ مینه تازه وساتي
***

## دوې کرښې

د یو ګور ځنګل په منځ کې
یوه ښه غټه ډبره
چې ترڅنګه یې چینه ده
دا چینه دومره رڼه ده
چې تصویر یې اینه ده
د چینې نه په شمار درې قدمه لرې
یوه پلنه زړه ونه
چې ښاخونه یې له ډېر زړښته لوېږي
په دې ونه کې یو ډډ دی
په دې ډډ کې
یوه لجرومه یو دسمال دی
په دسمال کې په سپڼسیو
فقط دوې کرښې لیکلي
په میرو ورکه یاره راشه
ملالۍ سترګې انتظار درته کوینه
***

۲۰ مرغومی ۱۳۹۱
کابل

## دریم تصویر

په تك سپین شیشه یز میز سره ګلابونه
پرې د پاسه دوه پاسته ماسته لاسونه
په چپ لاس کې سپینه ګوته
سپینه ګوته کې غمی دی
له غمي نه پاسه زیړه زنه بریښي
له همدې ځایه د ښکلي ګلابي مخ
او د څو سرو ګلابونو
د ښکلا اړیکه جوړه
یو ترکیب او یو دریم تصویر د مینې
بالاخره په یو نوي انداز باندې
پوړ په پوړ
د ښکلا نوې زینه جوړه
***

١٨ سلواغه ١٣٩١
کابل

## منځنی ګلاب

یا مینه ناکې سیلۍ!
ورشه د ستا په شان نازکې ته
همدومره وایه
د پوهنتون د ګڼو ونو لاندې
څو ګلابونه ولاړ
د منځني ګلاب د پاڼو منځ کې
یوه وړه کرښه کې څه لیکلي؟
***
۲۰ غبرګولی ۱۳۹۴
کابل

## تاريخ

تاريخ د تورروينو تور اژدها
پر سر يې جغ د وحشت
ببر سبر ولاړ دی
خونخوره خوله کې يې
پنځه زره غاښونه د ډار
له هر يو غاښه يې بهېږي د نسلونو وينې
هره پيړۍ کې يو وار چيغه کوي
له هرې چيغې يې لمبېږي طوفانو د اور
ځمکه ايره ايره کړه
وګړي لولپه کړي
ځينې وګړي په ايرو کې ترې ژوندي پاتې شي
هغه ړانده کاڼه وي
بېرته ړانده کاڼه
په تور اژدها فخر کوي

***

۴ وږی ۱۳۹۶
کابل

## باړ

شپږ میاشتې وړاندې هغه
د خپل ملګري سره
د څو روپیو په خاطر خبره واړوله
د ښار په منځ کې یې
د لوړ درې منزله هوټل په بام باندې
پخپل درې ټکي چاقو
دوړځه دوړځه کړ
او د ځمکې خولې یې غواړه کړه پرې
***
شپږ میاشتې ورسته چې په ډار او په بین
تر کلي راغی
او خپل کور ته یې په نیمه شپه ځان ورسوه
د دروازې لاره یې پرېښودله
د کور له شاه ځنې په ټیټ دیواله
لکه د غله غوندې انګړ ته واوښت
نو مخامخ د مور کوټې ته لاړو
په وحشیانه غږ یې مور سرې سترګې راپاځیدله

چې وې يې مورې مورې!
ها ډمه چيرې ده ها ډمه خور مې؟
چې له فلاني سره يې تار لرلو
***

مور يې په سوال او زرۍ
د زوی لمن ونيوه
زويه! د خدای په خاطر
خور دې دا دوه کاله له کور څخه بهر نه وزي
ته دې د ميمې غوندې خور باندې
د سترې بدنامې ټاپه په څه لګوې؟
***

زوی يې په قهر ووې
مورې ته څه پوهېږې؟
ته دا کم اصله او دا ډمه نجلۍ څه پېژنې؟
دغې زما او زما د مړه پلار شمله
په ډيران واچوله
اوس به يې زه هم خوښ شم
لاس يې ورتېر کړ
پلارنۍ ټوپک يې غاړې ته کړه

او ګردنۍ يې کلکه وتړله
په ګړنديو ګامو خور پسې کوټې ته لاړو
د کوټې ور يې د ټوپك په برچه پرانيستلو
او په ويده خورکۍ يې بار د ټوپك وچلوه
هغه معصومه يې په خوب ابدي خوب ته بوتله
لومړني قتل يې کړ پټ په دويم قتل باندې
په شنه سهار يې کلی ټول خبر کړ
چې خور مې توره له فلاني سره وه
هغه مې ښار کې مړ کړو
او خور مې کور کې مړه کړه
***

۳ غبرګولی ۱۳۸۹
کارتې نو – کابل

## د زغم ډېره

زه چې په ښه او په بد پویه شومه
مور مې ملا صیب ته ولېږلم
چې سبق ووایمه لمونځ زده کړمه
ما د ېر کالونه سبق وویلو
ماله ملا صیب نه سر کې قران شریف ولوسته
ما به د کور د نورو چارو ترځنګ
خپل پنځه وخته لمونځ په شوق کاوه
په دینداری کې مې په کور کلي کې نوم درلوده
پلار به مې مور ته ویل
ښځې ! زه نه غواړمه
چې دغه لورمې له خپل کوره شي بل کوره ته لاړه
زه غواړم دا لورمې په کور زاړه کړم
ځکه چې دا نجلې دینداره ده د کور رڼا ده
وخت تېریده خو وخت بیا داسې راغی
ما د ځوانی په درشل پښه کیښوده
مور مې د پلار په امر
زه له بهر وتلو منع کړمه

دادي اوس ډېر کالونه تېر دي بیخي ډېر کالونه
زه د ژوندون د څلويښتم کال په درشل ولاړه
زما کشري وروڼه او کشرۍ خویندې
د اولادو څښتنان
خو زه خوشبخته په مور پلار ګرانه يم
مور پلار مې ډېر په افتخار وايي دا
لورجانې! ته به په دې کورکې وې تر مرګه پورې
هو!
زه په مور پلار ګرانه يم
ما هم د دوی د ګرانښت سیوري لاندې
د یو انسان او د یوې ښتنې ښځې په حیث
پخپلو ټولو احساساتو خواهشاتو باندې
د زغم ډبره ایښې

***

۱۱ غویي ۱۳۸۹
نوا راډیو – کابل

## ښکلا

زرګونه کاله وړاندې
ښکلا د خپل وجود په لټه کې شوه
چې چرته چا کې خپل وجود ووینې؟
ښکلا په ټولو کایناتو کې ځان وشیندلو
بېرته یې ټولو کایناتو نه راټول کړو وجود
خو څه یې ونه لیدل
په انتظار انتظار
زما د ژوند تر پیلیدو راغله
زما د شعر تر پیلیدو راغله
پوهیږې ګرانې؟
هغه وخت چې ته د ټولې مینې
چې ته د ټولې ښکلا
چې تا د ټولو خواهشاتو په زور
یوه ګلابي لمبه تر سترګو راوړه
نو ما په دغه مهال
ستا دوو خوږو سترګو ته شعر ولیکه
په دغه شعر کې له زرګونه کاله وروسته ښکلا
ځان په زرګونو رنګو ولیدلو

۲۴ وږي ۱۳۸۹
نوا راډیو - کابل

## مينه او مننه

د هېواد تکړه شـــاعرې بلبنـدې بـدرۍ د غمي غمي سيندونو کتاب لپاره پېژندليك وليکئ، ځوان ژورنالېست حبيب کامران او صـــابر زيار د کتاب اوډون وکړ، ګران مشتاق دراني د خپل فکر په ګوتو د غمي غمي سيندونو پښتـۍ وکښـله، درانه يار اکبر شـينواري او کتاب کور خپرندويه ټولنې غمي غمي سيندونه چاپ او ستاسو تر ګوتو يې در ورساوه.

له ټولو په ډېره مينه مننه کوم له خپل وطن، ولس، ژبې او فرهنګ سره يې مينه تانده اوسه.

په ډېر درنښت
جلان
۲۰ ليندۍ ۱۳۹۸
کابل